Ketabton.com

(c) Ketabton.com: The Digital Library

له مانښامه تر مانښامه

دشعرونو مجموعه

پیرمحمد کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب پېژندنه

- دکتاب نوم : له مابښامه تر مابښامه
- شاعر : پیر محمد کاروان .
- خپروونکی : دآزاد افغانستان دلیکوالو ټولنه « وفا »
- چاپ او صحافي : تاپ پرنټرزپیښور
- کمپوزر : عبدالحی سحر
- لومړی چاپ : د۱۳۷۱هـ.ش دسنبلی میاشت ۱۹۹۲ع اګست
- شمیر : ۱۰۰۰ټوکه
- نمبر : (۶۹- ۷۰)

له بناغلي عبدالحی سحر نه یوه دنیا مننه چې زما شعرونه یې په نازکـــو او هنر مندوګوتو دکمپیوتر له پیچلي مغز نه راوایستل اوکتابي شکل یې ورکړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهداء :

دهغوی په نوم چې دخدای

له خليفه (انسان)

سره مينه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

دمابنامونو دمهال

يو «کاروان»

بنايي زمور سر نوشت به له تيارو سره تړل شوی وي ، مور په تيارو کې ژوند لي او په تيارو کې فناشوي نسلونه يو . دادی مورږاوس په يو داسې دوران کې ژوند کوو چې دژوند(!) په نوم هر مهال مو يو مابنام دی . زمور د دوران شاعر هم د تيارو ،دمابنامونودمهالونو شاعر دی . زمورشاعر که ربښتيا وايي نود دغو تيارو په هکله به غږيږي ، سهارونه لازمور لپاره نالیدلي . امیدونه دي .

اوس له بل هر وخت څخه ، زمور اولس ، زمور دهيواد نوي نسلونه ، له مابنامونو سره بلدتياته اړکيږي . ژه خو داسې ګڼم چې ګران شاعر پيرمحمد کاروان به دخپل شعري دفتر نوم له همدې کبله له مابنامه پيل کړی او پرمابنام پای ته رسولی وي.

پير محمد کاروان زمور دځوان شعرهغه وينا وال دی چې پروطن دخورو تيارو ، دخورومابنامونو په وړاندې دمقاومت په بهير کې يې هم خپل شعر ځلولی ، دتيارو دلحظو شاهد شاعر هم پاتې شوی دی او دخيال د رنګينيوپه تيالونو کې يې هم خپل شعرونه زنګولي دي .

کاروان دمقاومت دکاروان يوه داسې ځوانه ځيره ده چې دافغانانو د ويارلي مقاومت ډيروشيبوته يې شاعرانه روح ورکړی دی . په دغه بهير کې که دشعري او ادبي ارزښتونو پربنسټ خبرې کوو نوکاروان يې د ګوتو دشمير په لومړنيو کسانو کې شميرل په کاردي.

«له مابنامه تر مابنامه » دپير محمد کاروان د شعرلومړنۍ چاپي مجموعه ده . په دغه مجموعه کې دهغه د ادبي ژوند د پيل او دراوروستنيو ګلونو شعرونه راغلي دي.

مور د دغو شعرونود نيټو دښودلوله مخې ، په لږه موده کې دهغه دشاعرانه بون دځلا او پرمختګ ډيره ښه نندارە کولای شو . په دغه مجموعه کې دغزل او آزاد شعر ګڼې نمونې خوندي شوې دي او حقيقت دادی چې په دغو دواړوشعري ډولونو کې دهغه شاعرانه تخيل ، نويوتر کيښونو اوشعري دقت نندارې ته تم کيدلای شو .دغه راز يې

په دې مجموعه کې له زړې عنعنې سره سم څو نظمونه هم یوځای کړې دي .

دکاروان غزلې دپښتو نوې غزل له ډیرو ښکلو بیلګوڅخه شمیرلی شو . د دې مجموعې ډیرې غزلې به زمادې خبرې درښتینتوب لپاره تاسوولولئ .خو دغه څویې دنمونې په توګه وګورئ :

خدایه دګل کډې یې قـــدم قدم کـــې واړوه
ستړی شو کاروان دښاپیـــــرو ارم کې واړوه
ښکلو ته مې واوروه چې شمعوغوندې ویلې شي
زه دسو زغزل یم ما پـــه زیـــرویم کې واړوه
مانه غلو اغزیو دتـــناکـــوینې پټې کړې
اوس مې لوټ کاروان د پسرلو حرم کې واړوه

یاداچې :

ګلونه سوي دي اغزي ښکـــلوم
خزان ځپلي پـــــسرلي ښکلـوم
زه دساقې دمیونه یم عـــــادت
دافغاني ګودر منـــګي ښکـــلوم
نادان کاروان به یې غزل ګڼي خو
د زړه په وینـــو آزادي ښکلـوم

دکاروان په آزاده شاعرۍ کې هم موږ ګڼې خوښۍ لیدلای شو . د دغو شعرونوپه لړکې یې «قافله » دتمثیلي او تصویري شعر یوه ډیره په زړه پورې نمونه ده او «دري څاڅکي وینه »، «ته ... » ، «دپرښتې خوب » ، «څلورتوتکی»، «تعبیر ؟» «له وینوترموسکا » او داسې نور یې دنمونه یې آزاد پښتوشعرپه لړکې وړاندې کولی شو .

دهغه په شاعرۍ کې دنوي بیان ، نویو مفاهیمو او ترکیبونو او دیو ډول نوي خیال زیات څرګونه وینو . تا سوزمور دوطن له حالاتوسره سم دکاروان دیوې غزلې

مطلع وګورئ :

لاله په يوه پښه دي ولاړ د دامانونوپه سر
لکه چې پيغلې وي ختلې دماينونو په سر

يا :

ستن مې کړ قلم تاريې غـــــــزل غزل
شوم دليونـــــيو په ګريـــــوان مين
زړه دې رانه يو وړاوجـــــــرس دې کړ
بنکليه اوس به خود شې په کاروان مين

ديو ازاد شعريوه برخه ده :

... په کې چاودلې حبابونه دي دژوبلو هيلو
دښو ګانو په تار
تري راويباسم سلواغې داوښکو
زما داوښکو په دې هره سلواغه کې راځي
دښکلې يارديدن ته
دناکراروتلو سودپر هرونو وينې ...

ددا سې بنايست ترڅنګ ، دکاروان په شاعرۍ کې دګوتو اينښودلوڅايونه هم شته . په تيره بيا دهغه دشعري يون دپيل په شعرونو کې به ځيني نيمګړتياوې هم وويني . کله کله داسې عادي او شعاري خبرې هم بنايي ولولئ :

دجنګونو په دوزخ کې جنتي انسانان وسول
دباروتو سر ولمبو کې سپين دسولې مرغان وسول
زمانې له خوبه پاڅه ، دوجدان غږ ونه واوره
دغه کوم عدل انصاف دی، چې حقوق دانسان وسول

او يا بنايي کله کله زمونږ دکلاسيکې شاعرۍ له عنعنې نه په تقليديوه نيمه غزله په کې ولولو،لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقي سوي لوي زړه ته لـــــــړ ارام را
چې تش کړی مې یوجام نه وي بل جام را
ستا دزلفو پیچ وخم کې په څوګیریم
یورنګین غوندې سحر د دې مانبـام را
څو به ستړی لالهانده کاروان ګـــرځي
سرمنزل دخوږې مینې په یو ګا م را

دغه راز د «سیندوکي» په نوم شعر . د غني دشګود محل له هغه مشهور شعرسره یوخه ورته والی لري ،زه نه وایم چې تری تقلید شوی دی،ځکه کاروان یو لړ جلا خبرې لري خودشعر کلي فضا یې یوخه ترې اغیزمنه ده.

کاروان ، دافغانستان په معاصر شعرکې دمقاومت دشاعرۍ دیرې ښکلې نمونې ایجاد کړې او پښتو شاعرۍ ته یې ښځنلې دي . د کاروان شاعري ، دافغانانو دخوارلس کلنو را روانو غمیزو (تراژیدیو) ډیره صادقه شاهده او انځور وونکې شاعري ده. دهغه په شاعرۍ کې دکلیو ، باندو او غریبزو کاروانونو صمیمیت او درنښت پروت دی .

لکه چې دغه صمیمي شاعرتل امید کوي ، له دغو هیلو سره چې دتورتم له لړو لړ ور اخوا شو اونورمو نو راتلونکي نسلونه ، راتلونکي شاعران یوازې د تورتم شاهدان نه وي ، او سهارونه تش امیدونه نه وي .

زرین انځور

پیښور

د ۱۳۷۱هـ ش

د اسد ۲۸

په بدمرغه شیبو کې

دافغانستان دخپلواکۍ په نیك مرغه ورځ

عشق او جمال

زه خوراتلم نه تاراو لپړلم
له خوشبو يې نه ډك دسمال دي راكړ
ددسمال څنډې ته دې غوتې ورکړه
ځواب يې تاسره و،سوال دې راکړ

تامې په زړه کې تنده وکړله
په کې راشنه شول دخمار ګلونه
ساقي دې راوړي ډکې ډکې پيالې
چې په کې وتومبي کتار ګلونه

تندی مې مات د اضطراب په کاټو
ځم له زګړويو نه کورګی جوړم
سرلګومه دسکون په ځنګون
له پرهرونو پسرلی جوړوم

شاړه د ژوند غواري ابشاردنغمو
دروح دسمال چې په کې ومينځمه
پرپرده چې غوټه يې راوسپړمه
عشق اوجمال چې په کې ومينځمه

خيبر پلازه پېښور ١١ / ٢ / ١٩٩٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشق سرود

ماته د روح له منـــاري دعشق سرود راځـــي
په عاصي ژبه ستائنا ، راځي درود راځـــي
وړوخدايا نوسره ، وې ، راځۍ چې نبه يې مات کړو
ياغي تندی دی دابه چاته په سجـود راځي ؟
بتان مات شوي دايـــازد زلفـــووړم راځـــي
سترګې مـــووختې چې کله به محمود راځـــي ؟
مورد سپرلوپه غېږکې شنه خوښونه کړي نه دي
لا په ګلپاڼوکې ســکروټې دنمرود راځـــي
ستاد ديدن هرې ښکالوته يې خپې وهـلې
کاروان دسترګومې په دښته دوجود راځـــي

۱۳۷۰/۱/۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

بناغلی لپونتوب

مه ژاړه بلبله عبادت به په نغمو کوو

ذکر دګلونو به د پرخو په تسپـــوکوو

لمونځ به دسحر کوو او خوب به دغرمو کوو

تل به صفتونه د رخسار او دبارخوکوو

زړونه به ذړې ذړې دلمر په غېږ کې وشیندو

پټ به دیدنونه دسپوږمۍ په سپینو شپوکوو

غوڅې دې کړې ژبې راته مینه خو غوڅېږي نه

یو جهان خبرې په ستړګو په لېمـــو کوو

ځویه په اغزیو کې دردونه هم نشه لـــري

مست خماري خوب به دغوتو په بالښتوکوو

ځو دیار کوڅوته چې داسترګې په کې ځلي کړو

دې خپلو کعبو کې دیدنونه د سجدو کوو

لوټ دې شي کاروان خو بیابان به کړو غاټول غاټول

عشقه له بناغلي لپونتوب سره پښتو کوو

پېښور، دلیکوالو ټولنه ۱۳۷۱/۲/۲۱

اهداء: زخمي کابل نه،دښاپيرو ،وطن نه

تصوير ؟

دغرڅنۍ تيونه
په پولادي غشو سوري سوري دي
سوي زګيروي يې څه نري نري دي
او دتنکو ، تنکو کبليو خولګۍ
په تکو تورو لوغړنووينو تکې سرې دي
چاورشيندلې په ملالو سترګو
له سرو سپرغو ډکې تودې ايرې دي
په غټو اوښکو کې يې سره رنګونه
لکه دماتوآيينو په زړه کې
دسرو لمبو عکسونه
دغرڅنۍ په سترګو
ګردې تاوېږي د پرانګانو سترګې
نه شي په ځان پسې راښکلی تښتيدلې غوږګې
خيال يې په زړه باندې نوکارې او پنجې وروي
په زخمي ذهن يې تبره تبره سيخونه ګرځي
په سرو بوټيو اوهدوکو يې تبرونه ناڅي
په تصوريې د وريتو غوښو بويونه ګرځي
څوك څه پوهيږي چې تعبير يې څه دی ؟
بېګا کابل داسې يو خوب ليدلی

پښور ۷۱/۱/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشمعو کرونده

تنده د دیدن مې په لیمو لیمو کې ونغاړه
راشه داد ژوند مابنام په دوو ډیووکې ونغاړه
سوې کرونده به بیا راشین دشمعو فصل کړي
روح د پتنګانو په لمدو ایروکې ونغاړه
غوښ زړګی مې وګنده سرخې ستا دښکلایمه
پټ مې دموسکا غوندې په سروبار خوکې ونغاړه
ښکلی پسرلی راته اشنا په جرګه راوله
ما خزان ځپلی په تنکو غوټو کې ونغاړه
راشه د ارم دښاپیرو قاصد ه یویې سه
غوټه دشوګیر مې په پستو وړمو کې ونغاړه
وړه مې چې ساحل دپیغلتوب په غیږکې ونیسم
عشقه دریابې ما په یاغې څپو کې ونغاړه
بیاد رابعې په وینو سرو غنچو ته کړي سلام
دا منجاورخیال مې دسخې جنډوکې ونغاړه
ستاکاروان ، دوینو په زعفرانو غزل ولیکه
دا تاویز دمینې په ځوندو ځوندو کې ونغاړه

پیښور حوت ۱۳۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتظار

داوښکوپرخه مې بې ګله راځي
زما دګل کډې به کله راځي
تشې جونګړې مې دسترګوپاتې
ورته به کله ډیوه بله راځي
بې تانه مرارمان مې غږنه کوي
که مسیحا ورته څوځله راځي
زه یې دیاردلاسه زربولمه
که مات کچکول ته مې خزله راځي
ما په زړګي کې ورته ځاله جوړه
خوکه په ناز ورته بلبله راځي
د دارکړۍ کې جوتې څومره خوند کا
چې ننداري ته یارپه خپله راځي
زه به له تندې زاره چاودی وم
دساقي لاس کې به جام هله راځي
جرس به دیر په چیغووزړبري
ستړی کاروان چې ترمنزله له راځي

۱۳۶۵/۳/۱۳ دنریزې کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سحر په لوري

دګم نامی خلوت کې غلی ناست وم
لکه دغم او د ویرونو مابنام
زما په تن وتور لباس دماتم
بلې مې وې داوښکو تښې ډیوې
لکه چې ښکلي ستوري
په نرۍ وریځ کې وي پټ
دانتظار اغزي مې سترګو کې راتلل ساتېدل
ماستاد مینې ترانې ویلې
په ویښوسړې ترانې
په ترمخ اوښکو کې لمدې ترانې
خوچې ناڅاپه مې سرپورته کړلو
دځنګانه له ستنو
اې زما مینې بیا مې ته ولیدې
لکه شفق په سره سالوکې پټه

په سرکو شونډودي موسکا خوره وه
زما په اوښکو کې دنورپه شاني وځليده
راغلې په سرولاسودې پورته کړمه
په تنکو ګوتودې زما اوښکی را پاکې کړلې
په تورپټکي کې دې راوتومبل دستورونګلان
او دواړه لاس په لاس روان شو دسحرپه لوري

۱۳٦٤/۱۰/۱۹تنې

تربۍ

دمـــود وتربۍ درتــه راغلم تـا سخاونه کـــړه
ساقي مستانه هیـــڅ پیـــرزو دي په گـــدارنه کړه
ستا په درشل کې مې تندی ډبرو سجدو کړوستړی
ماستا دحسـن پرستـــش کړ تا پروا ونـــه کړه
زما دسترگو په زیـــارت کې بلـــډلي ډیوې
مغروره تا خوتش په شـــوندوکې دعـــارنه کړه
ته دخپل حسن له نشـو نه راوزگـــاره نه شـوې
هیڅ دې زما خیرې گریـوان پورې خنـدا ونه کړه
دزړه ساحـــل مې ستا دمینې سمندرتـــه اینبـی
خو تا دوڅ کـــکړ ساحل په لـــور گډاونـــه کـړه
یتیمې هیلې به یتـــیمې وړم دگور غـــپرې تـــه
مهربـــاني خـــونـــه یتیمو هیلوتـــاونه کړه
لکه دشمعې سره اوشنه شې له لمبودې زار شـــم
کاروان دې اوریږ لکه پتنگ کړ تازراونه کـــړه

تنې،د نریزې د کلي غرونه ۱۳٦٤

د پسرلي توتکی

په سپینوواوروکې موسکي شول زرزري ګلونه
دښکلي لمر پلوشوګلونه
لکه چې پېغلې وي تومبلي دمرجانوغمي
دسپین تکري د پاسه
د پسرلي ورېمې د ژمي غېږکې وغځېدې
په مرغېږجنونه هیلوراغی مسیح
وحشي ګلونوشنې جامې واغوستې
دمالیارانومحتاجي نه کوي
زمور جونګړې ته هم راغلې ښایسته توتکی
جوړه جوړه توتکی
لکه چې راشي دفردوس له غېږې
دمعشوقې اودعاشق روحونه
زمورانګړکې یې اتن واچاوه
اوپه غچ غچ کې یې دژوند تراني وویلې
رنځوري مورمې ورته څه په مینه مینه ووې
«توتکی ستړې مه شې ستړې مه شې»
توتکی خلاصې کړې منښوکې اوغچ غچ یې وکړ
څه په خندا یې ورته ووې چې ژوندی اوسې
زما دزړه په تالاشوي باغ کې وتوکېدل
دامیدونوګلان

۱۳٦٤/۱۲/٦ تنې، دنریزي کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپونی سندري

ماوي چې مړه ته به زه وايمه ژوندی سندري

خووخت مې نه پرېږدي په زړه دنېکمرغۍ سندري

مايې داوښکو په شبنم خوبونه وتښتول

ګلونه ګونګ دي وايـــي نه پـــسرلنۍ سندري

يه لپونی زمانې ! لږځه خو په خودشه که نه

روغې ســـــندري مې چې بولې لپونی سندري

که دلته هلته مې په کانو ککرۍ ماتوي

وينـــې مې وايي په خـــندا د ازادۍ سندري

چې دمغرور په زړه داورپه څېرلګېږي نوزما څه قصور

زه خـــو په زړونولګوم لـــکه پتې سندري

چې يې د زړه غوږونه نه وي تش دسر په غوږو

اوريدای نه شـــي زما مستې غرنۍ سندري

دا د کاروان د زړه په وينو کې راوزېږدي

چې په کاغذ يې کړې خپرې دلې دلې سندري

۱۳۶۵/۱/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوښکو ډيو لې

دجنګـونو په دوزخ کې ، جنتـــي افغانان وســـول
د باروتوسرولمبو کې ، سپيـــن دسـولې مرغان وسول
خزان او ر په بهار بل کړ، د ژوندون ګلونه وچ شول
اواره نغمې ايـــرې شوې، مهـاجر بلـــبلان وسـول
د باروتو ښامارانـو، اسو پلـــوکې لمبې پـــو کړې
دجونګړو ډ يو ې مړې شوې ، د رڼا پتـنګان وسول
قافلې ستړې ستومانه ، د ژوندون په پيـچ وخم کې
لارې پټې په سکـــروتو ، د وفا قاصـــدان وسـول
هرارمانشـــوژوبلژوبـــل،دپرې هيـــلې هـــديرې شـــوې
درڼاوښکو ډيـوو کې دســـرووينو ګلان وســـــول
شوګيرې اوږدې اوږدې شوې، شپه دغم په تيارو پټه
دسبا ستوري برښنې نه کړې ،دسپـيدو په ګرېوان وسول
په نغمو کې کړيکې کړيکې، ويرپه زيرو بم کې خپوردی
پر دپسيان له ډبرې مينې ، دوطن په ارمان وسول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمودومودو یارانـــو، یودبل دیدن ونـــه کړ
دوصـــال په تمه تمه ، په لمبـــو د هجران وســـول
دزړه کب په وچه پروت دی، دوصال سمندر څه شو؟
دسرو وینو سره ګو هریې، بس په یاد دجانان وسول
دګولیو باران اوري، لاله ترمي ترمې پـــروت دی
خپلې پانې یې سپر غې شوې، هغـه سره ارغوان وسول
هسې نه چې سریې لوخ شي ، د ابشیا دښکلي ناوې
ویښم خوب اوکه په اوریې ، سره ټکري دالوان وسول
زمانې له خو به پاڅه ، دوجدان غږونـــــه واوره
دغه کوم عدل انصاف دی، چې حقوق دانسان وسول
افـــغاني جرس فریاد کړي، ځې کاروان دشهیدانو
نورڅوك نه دي دلته هلته ، دیوې موربچیان وسول

۱۳۶۵/۱۲/۱۲ نېي

د غزل په څنوکي

د غزل څنوکی ګلونه ږدمه
پښتون مابنام ته مشالونه ږدمه

دتوروشپوشیبو اوږدې به نه شی
لمرۍ په سریې سهارونه ږدمه

مینې له زړه نه مې پټې کړه لرې
یارته دسرووینوخالونه ږدمه

د ژوند ځولۍ مې ډکوم له ګلو
څم په اغزوکې قدمونه ږدمه

که په مرۍ مې یوه سلګۍ وي پاتې
لابه په ژبه ستا نومونه ږدمه

ساقي زما په تنده مه ځوربړه
زه نورو تږوته جامونه ږدمه

عشق مې په دار کې سرته داسې ویل
په تادحسن امپلونه ږدمه

لاله تصویریې په سینه لګوه
په لوغړن ځیګر دا غونه ږدمه

راځه کاروانه دتیارو په زړه کې
زه درته شمعې کتارونه ږدمه

سرطان ١٣٦٥

ګمنام شاعر

څو مره چې لوبدلی له نظر د زمانو یمه
دومره جګ ختلی دغزل په مناروییمه

لږ خومې دارون زړګی دزړه په سترګو وګورئ
لال یم خوله سترګو نه پټ شوی په ایرویمه

حسنه لږ موسکی شه چې پانوس می شي په اوښکو جوړ
هسې نه ایره شم وریت دعشق په سرولمبویمه

وخت یمه داغلی خوهرداغ مې له خندا نه شین
پټ په تصورکې دلاله په لوپټو یمه

نه مې شي لیدلای پتنګان په محلونوکې
څراغ دیتیمانودجونګرودتیارویمه

څومره چې غزل مې په سروینولمبدلي دي
دومره ژوبل دجفا په کتهارویمه

نه درځم باغوانه دمنت ګلان دي نه غواړم
زه آزاد بلبل دجګو غرود سرد رویمه

مرمې کړه مرګیه خونغمې به مې ژوندی وي تل
زه خو یوکاروان دترانو اود نغمویمه

۱۳۶۵/٤

غرځنی ګل

غرځنی ګل یم غرځنوته خـــاندم
اوببرسرولـپونوته خـــانـدم
اوسېږم لرې د دنـــیاله سترګو
وختونوپټ کړم دهرچاله ســترګو
دلوړوغرونـــوپه لمن کـــې اوسم
دخپلوویـنـــوپه کـــفن کې اوسم
ډیوې مې بلې دشبـــنم په پانوس
رانه چاپـــېروي دبلـبلوجلوس
خاندم دمینې ترانـوته خـــاندم
اوبـــبرســرولپـــونوته خـــاندم
وایي ابشارراته دمیـــنې نغمې
خوب ته مې یوسي دغنګل زمزمې
سپوږمی مې مخ پټ کړي دوړانګوپه شـال
نسـیم وزنګـوي وروروپه تـبـال
سحرمې مخ مینځي د پرخې په مې
غلی راوینې شم دشپونکي په شپېلې
دلمرزرینـــود ردانـــوته خانـدم
اوببرســرولپونـــوتـــه خانـــدم
غرنی پېغله راته غلې ګـــوري

په ښکلوستر ګوراته ښکلي ګوري
په تورپېکي کې مې ټومبلی نه شي
تهمت دمينې په ځان ورلی نه شي
مخکې قدم اخلي په شاه راګوري
زما دپانو په شان زړه يې ښوري
زه يې دسترګوائينوته خاندم
اوبرسرولپونوته خاندم
دشپې له دېونه تښتېدلی نه يم
دخوارۍ بوی په ژبه غلی نه يم
که په پنجوکې دلپوانو شمه
ژوبل په شان دغزالانو شمه
بوی به مې ځمکې نه آسمان ته رسي
رنګ به مې حسن دجانان ته رسي
څوچې ژوندون وي زمانو ته خاندم
اوببرسرولپونوته خاندم
سپېره خزان که ريژولی يمه
مړ نه يم بيا راټوکېدلی يمه
ديوه ګم نام شاعرداستان يمه زه
که نن يم پټ سبا عيان يمه زه
دګلومیربه ګلستان ته شمه
مشعل دلاري به کاروان ته شمه
دکاروانيانو ارمانوته خاندم
اوببرسرو لپونوته خاندم

تنې د چورکوندې ځنګل لمن ، اسد ۱۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوښکو ګلونه

ماوې چې ښکلی پسرلی راشي
د انتظارمحای به وصال ونیسي
ماوې چې سنا به هم زړه تنګ په محلونوکې شي
ای دبهاردښکلاګانورنګینوپرښتې !
ماوې چې ته به خامخاراشې
دپسرلي درنګینواودخوشبوپه منځ کې
دموسکانوربه په ګلونواوغوټوووشیندې
زما دستورګوپه تیاره ځنګل به
دخنداګانوډیوې و وروې
ماستا د غارې د ښکلا په خاطر
دښوګانو به هرتاروپېیل
دښکلو اوښکوښکلې ښکلې ګلان

ماوې چې راشې ستا په غاړه به يې وځړوم
دغه زما دپاکې مينې نوه پاکه ډالۍ
خوته رانغلې
زما داوښکوګلان ورژېدل
دګرېوانه په دښته و ورېدل
احساس مې ونيوه په ګوتوکې دمينې شهباز
دزړه په تارتاريې نغمې خوږې کړې
دښکلو اوښکو دګلونو نغمې
ستا دښکلا دبهارونونغمې

۱۳٦۵/۱/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

وعدې

ستاوعدې په کوم مزارکې ښخې دي
هیلې شوې کباب انګارکې ښخې دي
نن مې منصوري جذبې وخت پورته کړې
وګړه ننداره په دارکـــې ښـــخې دي
وینې مې دزړه نه دي نو نورځه دي ؟
سرې لکه لاله بهارکـــــې ښخې دي
تاته به امپـــل ترې جوړومـــه زه
اوښکې دګرېوان په تارکې ښخې دي
بیابه مې نغـمې پتې دزړونـــوشي
اوس دګم نامې غبـــارکې ښخې دي
ته چې دکاروان زخمـــونه نـــه وینې
سترګې دې په کوم خمارکې ښخې دي

۱۳٦٤/ ۹/ ۱۹تنې د نریزې کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجنون پراوته

عشقه زمازړه کې دشعرونو تـخم وکړه
دې سوې چمن کې دګلونو تخـــم وکړه
پرپړده چې دسترګوپه پانوس مې ډيوې ولګې
حسنه په موسکاکې داورونو تخم وکړه
لړمې دازخمې ځيګردمينې په اورورداغه
راشه لاله زارکـې د داغونو تخم وکـــړه
ستړی به مې نه شي فرهادي عزم دعشق په لار
ماتـه په قـدم قـدم دغرونوتـــخم وکـړه
هريواسوېلی به دنسيم په ځای ورولېـږم
وخته په لوټ بـاغ دبهارونو تخـم وکړه
ډك مې کړه له مالګې پر هرونه چې خوب رانه شي
ستونې کې مې خـوږ دسرودونوتخم وکړه
عشقه چې کاروان مې دجنون پراوته ورسې
راشه په رک رک مې دسوزونو تخم وکړه

د نريزې کلی
١٣٦٥/٤/٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنه

دزاهد په کانو ژوبل ، دساقي په غېږکې پروت وای
یا دسروڅينويوخال وای ، دتندي په غېږکې پروت وای
ګرم عشق وای ويلې کړی ، دګودراوبوکې حل وای
پښتني لپوکې جګ وای، دمنګې په غېږکې پروت وای
چاپه څنوکې ټومبلی ، چا پټکوکې لګولی
لوغړن سوی ببری وای ، دکودي په غېږکې پروت وای
سوی لوی سپېلنی وای ، ديارحسن ته لوګی وای
دپښتودسرو سکروټو، دنغري په غېږکې پروت وای
چې دمينې مړاوی ګل مې ، په سروڅينو راژوندی وای
خير دی زه دې ځوانيمرګ هم ، دمرګي په غېږکې پروت وای
دکاروان يوخورغزل وای ، له سلګی سره سلګی وای
ګرځيدای په ژوبلوزړونو، د ځګړوي په غېږکې پروت وای

۱۳۶۶/۱/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF PACKU 4382

سپرلیه لږخوراشه

سپرلیه لږخوراشه ستایادونه رانه هیـــرشول
زخمونه مې ډپرولیدل ګلونه رانه هیـــرشـــول
دحسن دګلـــونوسترګې ډکې دي له اوښکو
دعشق دبلـــبلانو آوازونه رانـــه هیرشـول
دژوبل زړه په وینو کې مې تږی ارمان لامبي
ساقي نه پیژنمه ډك جـامونه رانـه هیرشـــول
اغزورانه اخیستی دی په باج کې لال دوینو
راځه دزړه طـــبیبه مرهمونه رانه هـیرشول
تیارې رانه خورې دي دهجران په تورماښام کې
دوصل هغه ښکلي سهار ونه رانه هیرشـول
دژوند په باغ اوښ کې دباروتو بوی خورشـــوی
دګلودعطرونو کـاروانونه رانـــــه هیرشـــول
دوریت احساس په غیږ کې مې کاروان دسلګوپروت دی
آشنا یه دخـندا ډك غزلـــونه رانه هـــیرشول

۱۳٦٥/۱۲/۲٤/۲٥

دنریزې کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخه شعرونه

تاچې ویل زمـــا ترخه شعرونـــه

هغه ترخه مې شول خوارې شعـــرونه

شونډودې رنګ ځکه دوینو واخپـست

دزړه په وینو مې وو ســره شعـــرونه

لکه ماشوم غوندې دې وتخنـــــول

چې شول کټ کټ په خندا شنه شعرونه

راشه امـپل یې کړه د دنګې غـــارې

په ګرېوانه مې دې پـــراته شعـــرونه

چې یې طواف ووستا دمخ په شمـــع

شول دپتنګ غـوندې لمبه شعـــرونه

لـکه مسیح مې په شـــعرونه راشه

ګوندې ژوندي می شي دامړه شعرونه

لږدبخـیل نـــظرسخا خـــو وکړه

چې دکاروان شي مېلمانه شعـــرونه

١٣٦٥دنریزې کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوی پسرلی

پسرلی راغی دادحسن سمبول
لکه دتپروزمانو افسانوي شهزادګی
لکه یتیم نه چې زاړه زاړه غمونه شي هېر
اوپه سپېرو شونډو موسکی غوندې شي
داسې وحشي ګلونه وخندیدل
اوپه فطرت کې یې سرخي خوره شوه

×××

دسپین شبنم دهرپانوس په زړه کې
دسروګلونو دموسکا وولمې وځلیدې
خودشاعردښکلیواوښکو په ډولی کې ناسته
دښکلې مینې هغه ښکلې ټاوې
لادموسکا رنګین درشل ته رسیدلې نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوبل غزل

زخم يم ، دوينو د پتې په غېږکې پروت يمه
زه ژوبل غزل يم دسلګې په غېږکې پروت يمه
مينه مې دشمعې په تنکې لمبه ماتيږي نـــه
زه ياغي پتنګ يم دسپرغې په غېږکې پروت يمه
څاڅکي دمجنون داوښکو يم دليلا هار به شم
غلى نن سبا که دغوتې په غېږکې پـروت يمه
حسن رانه تاوکړې سپينې لپچې دبنګـړوډکې
خيرکه د دارونو دکړې په غـــېږکې پروت يمه
ډك مې د آدم له مستې مينې دى د زړه رباب
اوس هم د پښتو د درخانې په غېږکې پـروت يمه
پښې راباندې مه ږده په ايروکې مې انګاردى پټ
هسې داسې غلى دچرګې په غېږ کې پروت يمه
ديو دتورو شپوته بـــه دوړانګـــوزندې واچـوم
زه دآسمانونو دسپوږمۍ په غېږکې پـــروت يمه

١٢/١/٦٦دنريزې کلى

ورو ورو راځـــــه

ورو ورو راځه چې په ګلونوکې ونه ښويږې
دلېونوپه ژوبلوزړونـــوکې ونه ښويـــږې
طبيب آشنا پتې دميني لـــګوه په احتياط
پام په ناسورو پرهرونوکې ونـــــه ښويږې
دژوند ډيوې له محلونو نه راکوزه شه لـــږ
شغلې د ژوند راوړه قبرونوکې ونه ښويږې
راته په خوب کې چې راوړې دامیدونو غنچې
پاڅه چې ويښ شو په خوبونوکې ونه ښويږې
الماسي تاج شه دموسکا دښکلې نـــاوې دسر
ديتيم اوښکې په ويرونوکې ونه ښويـــږې
چې تږې زړونه شي خړوب ساقـي دتږوتږو
نوردمړو په نظرونـوکې ونـــه ښويـــږې
پنجرې کړه ماتې طلايي مرغيه والـــوزه
دغلامۍ تورو جالونو کې ونه ښويـــږې
اې دفردوس له رنګينو جوړې محبوبې زمـــا
بس دی چې نوره دوز خونو کې ونه ښويږې
ټپې ډيوې کاروانه بلې کړه دزړه په وينـــو
راځه منزل ته کړلېچونو کې ونه ښويـــږې

۱۳۶۶/۱۲/۷تنې دوړې خيسوره باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلیه لمره

اوښکو دشبنم کې ښکـــــلیه لمره ګلاـ ن وشیـنده
غېږدتورو شپوکې سپین سحره ګلان وشیـــــنده
تېرې دغمونو دویرونو شپې غمګـــینې کـــړه
وشړه کینې اوکـــرکې زړه مـــرکز دمینې کـــړه
دغه جنګ ځپلې دژوندون لحظې رنګیـــنې کړه
راشه پـــسرلیه مـــــرووره ګلان وشیـــــنده
باغه ! دکوثرمیـ ته دګـل جـــامونه ونیـــسه
تاندې غوتیـ واکړه په غندل جامـــونه ونیـــسه
هرتېرې بلبل ته په مـــنګول جامونه ونیـــسه
ګرمه دبلبل چې شي سندره ګلان وشیـــــنده
خاوروکې پرتې دهریتیم اوښکې ښکلوکې دي
ګل نه خطا شوې راپـــرېوتې په اغزوکـــې دي
نورېې غېږکې وینمه ډیوې په هدیروکـــې دي
خدایه ! په دې هره مرغلره ګلان وشیـــــنده

اې ورکې خندا لږد سلګوپه غېږکې وخـــانـــــده
وچې شوندې ښکل کړه دغوټوپه غېږکې وخـــانده
راشه دپرهردوینو سرو پـــه غېږکې وخانـــــده
راشه د دردونو درمـــانګـــره ګلان وشيـنده
پرېږدی،چې دا وچې څانګې وغځېزې تانـدې شي
ښخې دکېږديوچې په سروګلوکې مراند ې شـــي
حسن دپېغلوټوته صحراکې لوګی سپاندې شي
والوزه نسيمه جادوګره ګلان وشيـــــــنده
مينه کې مجنون چې دليلادر شل ته ورســـي
وخاندې زخمې زړه دلاله ګـــوګل ته ورســـي
څوچې دغه ستړې قافـــــلې منزل ته ورسـي
پاکې آزادۍ په لـــره بـــــره ګلان وشيـــنده
پرېږدی، چې فردوس نه لنډلاسونه د پرديـوشي
څيرې ګرېوانـونه ســره ټـــول دلېونيـــو شي
مور د کاروان زړه د آزادۍ په خوږو ميـــوشي
راشه ښکـلـيه وخته بختـــوره ګلان وشيـنده

۱۳۶۶/۱۲/۷/ تنې دښريزې کلی

مه غواړه جانانه

مه غواړه جانانه رانه شنې تـرانې مه غـواړه

ګل مې دزړه سوی دی مشکینې وږمې مه غواړه
ولې لمبه نه شم په لمبـو کې چې افغان وینـم
وینې د مجنون لښتې لښتې په بیابـان وینم
نـن خود لیلا هغه غنچه پیکی پریشان وینم
ماسره سلګۍ دي ما نه نورې تحفې مه غـواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې تـرانې مه غـواړه
ډ یر آزاد سرونه په زندۍ په غرغرې پـراته
ښکلې ښکلې زړونه په پرد وچړوقطرې پراته
سوي پتنګان په سرو لمبو ایـرې ایرې پراته
مانه عاشورا کې اخترونه مـیلې مه غواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې ترانې مه غـواړه
پریږده تـغزل عـاشقانـه اورندانـه خـیالـه
مست شه په د رد ونوکړاوونو مستانه خیاله
والوزه خوب مه کړه دغفلت په آشیانه خیاله
پښتوکې رانه زلفې تاوراتاو زولنې مه غواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې تـرانې مه غـواړه
واورئ نړیوالو خـپلواکې اوازآدې غـواړو

مارچې دلستونې وې نه خپل اونه پردي غواړو
کاريې چه ستم وې نه شرقي اونه غربي غواړو
ويښ شه د ايشيا زړګيه نورې جوتې مه غواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې تراني مه غواړه
څويه مې فردوس کې سرې لمبې د د وزخونووي
څوپورې به ژوند لکه يتيم په فريادونووي
څويه مې پراته دمالګې غرونه په زخمونووي
نورې مې چنګېزه دسروينوويالې مه غواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې تراني مه غواړه
دبروننداري وکړې زمادوينوداروته
دا شراب دوينو به مې زهرشي اغياروته
کاڼي به کباب زما دغوښوشي خونخواروته
نورې مې د زړه په سيخ پېيلې توتې مه غواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې تراني مه غواړه
دازمانغمې دي که خوږې نه دي مالګينې دي
ځې دزړونو تل ته پرهرژلې دي حزينې دي
نوربه په کې څه وې د کاروان د زړګي وينې دي
مانه په شرابو لمبيدلې نغمې مه غواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې تراني مه غواړه

حوت / ۱۰ / ۱۳۶۶

ډالی

ساقي که ستا ساغرله میـــودك دی

څه ! زمـاستونی لــه سلګیو ډك دی

ته وایي راشه خوزه څنـــګه درشـم

لاچي محفل دي لـه پردیـــو ډك دی

داوښکو پـــرخه مي نسیمه یوســه

دمیني ګل مي لـــه سپرغیودك دی

پرپشان اوربل ته او پرپشان پتکي ته

دزړه کـــودی مي له ببریـــو ډك دی

د دیدن تري به ماړه شي څنـــګه ؟

ګودرله سرو ماتو منګـــیو ډك دی

زما دژوند پـه بن خـزان راغـــلـی

بس ګورســتان مي له غوټیـــودك دی

لاله صـفت ته دي وزګـــارنه یمه

دلتـــه تـــتر له مـردکیـو ډك دی

ښکلیه نظرته دي لوګی لـــوګی شـه

زمـاغزل لـــــه سپبلنیـو ډك دی

چې کله خاندي نوډالي بـــه درورم

څیري ګرېوان مي له غمیو ډك دی

کاروان په پښو کړي دتناکو پښې

څـــه که منزل یې له اغزیودك دی

٦٦/٦/٢٩

اختر

اخترخوخاندي په کټ کټ تبريږي
خودازمورنه ولي پټ تپربيږي؟
بىکلى فردوس راته دوزخ جورشوى
دژوند لحظې مې پاس په بټ تپربږي
ولې به نه چوي زړګى دبلبل
چې په ګلونو کې ګونګټ تپريږي
هغه زړګۍ چې ځليده لکه لال
اوس يې په سرښاماران غټ تپربږي
اختره وېخښنه خندلى نه شم
زما په ويرکې هرمپلټ تپربږي
تاندې تنکى هيلې شوې خاورې ايرې
ځې جنازې يې مټ په مټ تپريږي
داهم انصاف ! دى ناروغ ونه لىده
طبيب په خوا د روغ رمټ تپربږي
شنو ترانو ته يې لږصبروکړې،
کاروان په اورکې لټ په لټ تپريږي

۱۳۶۶/۳/۸ دکوچني اختردوهمه ورځ تنې وړې خيسوره

دغه څنګه پسرلی دی

په پټکي ګلونه ، نه شته په اوربل ګلونه ،نه شـــته
ځولۍ ډکې له اغـــزودي په منګول ګلونه ، نه شته
په کوڅه ګلونه ، نه شته په درشل ګلونه ،نه شـته
دیارانو اودوســـــتانـو په محفل ګلونه ،نه شته

دغه څنګه پسرلی دی ؟

دغه څنګه پسرلی دی ؟

دبامونـو په ســـرونو کودي مات دي دببریو
دببروتورې غنـچې دي لـــګیدلې په ګولیـــو
په ګودرکې پپغلې نه شته نه شرنګا شته دینګړیو
څیرې ویرې ګړپوانونه دي دعشـــق دلپـونیو

دغه څنګه پسرلی دی ؟

دغه څنګه پسرلی دی ؟

بلبلان سوري په غشو ژاړي ژاړي په نغمو کې
له مست زرك ده جوړې ورکه چې له جوشـــه وهي کـــوکې
دګیـګړ ګلونـــه ژاړي په کـــمراوپه درو کې
شپون له ژونده مروردی شپېلی ډوبه په سلګو کې

دغه څنګه پسرلی دی ؟

دغه څنګه پسرلی دی ؟

دهجران تیاري چاپېره دوصال له رونې مثال نه
دباروتو ماران تاودي دبودې له رنګین ټال نه
دپرواونښکو آرام وړی له سروستر ګودغزال نه
عشق په زړه باندې زخمي دی لرې پروت دی له جمال نه
دغه څنګه پسرلی دی ؟
دغه څنګه پسرلی دی ؟

دشنپلیو په شنه غېږکې دسکروتو سوریاران دی
پانې پانې دي ګلونه لوټې لوټې ګلستان دی
دلاله په زړه کې نغښتی دزخمي زړګي داستان دی
عجیبه ده عجیبه ده پسرلی راته خزان دی
دغه څنګه پسرلی دی ؟
دغه څنګه پسرلی دی ؟

دګلونو په صحراکې دکوچیانو کېږدې نه شته
شرمول یې چې ګلونه هغه مستې کوچې نه شته
چې اوښان به یې مهاروو لپونې شین خالې نه شته
له نظره کړې شین سترګو له داغ روغې غوټې نه شته
دغه څنګه پسرلی دی؟
دغه څنګه پسرلی دی؟

چې مې چادزړه له خم نه می دوینو دي زېښلي
دهغې په څربه خپته سره اورونه لګیدلي
دوزخونو مې فردوس نه پسرلي دي تښتولي

دوزخونه به رنګېږي ماخوبونهٔ دي ليدلي
دغه څنګه پسرلی دی؟
دغه څنګه پسرلی دی ؟

چې ګلـــونه په کې کـــم دي چې زخمونه په کې ډېردي
چې يوهم په زړه روغ نه شته چې دردونه په کې ډېردي
دخندا تـــش پاتې نـودم دی فريـــادونه په کې ډېردي
دوصـــــال دنيا تـــالاده هجرتـــونه په کې ډېردي

دغه څنګه پسرلی دی؟
دغه څنګه پسرلی دی ؟

دغه زړه دپســـرلـــــودی پسرلي به راژوندي شي
دزړه وينـــه به تـاريـــخ ته سنګلی خال پاس په تندي شي
افغانان به سره خـــپل شي تېتې ستركې به پردي شي
لېوني کاروان ته بيـــابه ليلاجوړه آزادي شـــــي

پسرلي به را ژوندي شي
پسرلي به را ژوندي شي

١٣٦٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا

دزړګي په تخت مې کښېنه ښکلیه راشه
زه سلام درته کوم ته مې بادشـــــاشه
دښـــواغزومـــې پـــرخه درتـــه راوړه
خادمانو تـــه دې ګـله په خـــــنداشه
په پردو چړو مې زړه ټوټې ټـوټې دی
مینې راشـه په زخمـــونو یې دوا شه
دسبا باده غـــتی په زړه زخـمـي ده
پټ په غوږکی ورته ووایه چې واشـــه
خدایه کبرکړې زوال دیزید یانـــــو
وینه وچه په دوهمـه کربلا شـــــه
دیتیم ژړا خوعرشـــــــه پورې لاړه
دوطن موړې لاس جګ کړه په دعا شه
مجنونان به ترڅوګرځي سرګـــر دانـه
ازادی له خندا شنه شه شـــــالیلاشه
دسپرلوقاصـــده وشیـــــنده ګلـــونه
دفردوس منـظرې جوړه په صـــحراشه

دوطن چمن مې لولپـــــه لمبه شـو

خدایه ورکه دبـــاروتو اژدهـــا شـــه

اوږدې شپې مې په ژوندون باندې خورې دي

دســـبا ګرېوان کې لمـره په ځلاشـــه

ارمانونه مې په خـــاوروکې پراتـــه دي

په مزاریې یـاره راشه مسیحا شـــه

یه په زړه ظالمه حسنه خبرنـــه یـــې ؟

مهجورعشق خو زاره چا ودی شو پخلاشه

په وطن چې دوحدت نارې خـــورې شـي

دابلا دځـانـــځانې تـــالاوالاشـــه

چې ښکلاته دې جهان ګوته په خوله شي

بیـــا سینګاروکړه اوناوې د اپشیا شـه

بیاکاروان مې که دژوند په مرګي لوټ شي

خیردی یوځل خوپه ژوند یاره زمـــا شه

۱۳٦۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسکی شه

موسکی شه ستا حضورته مې سلګی راوړې دي

داوښکو ډکې سترګې مې ډالی راوړې دي

منګول کې راځه واخله دازما دزړه ربـــاب

یوځو مستې نغمې مې لـبونی راوړې دي

دځنو په تیارو به دې ډیوې ولـــــګوم

ګلونو دارمان مې سرې غـوتی راوړې دي

زړګی مـې تخنو ي لکه ماشوم یې خندوي

سپـــرلي راته وړمـــې دآزادی راوړې دي

سړه به مینه نه شي لاتوده به وي تـــوده

سینه کې مې جانانه سرې سپرغی راوړې دي

خبرنه یې ختنه؟ باروت کډې باروي

آهوراته بیاسترګې غرځنی راوړې دي

لیدلی مې دی خوب خویم په ویښه په خندا

جانان مې دزړګي کورته کېږدی راوړې دي

کاروانه ګوندې تنده دې شي ماته دمودو

ساقي وایې پیالې مې ځنډنی راوړې دي

۱۳٦۷ /۲ /۲۳

دتیږغرونه دزړکمر دنښترو په لن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمهاجرفرياد

کاشکي چې يوځلي مې سکل واى دوطن لمنې
خيردى که بياواى رانه تاوې د کفن لمنې
هغه پرون به چې ګلونو ورته کډې راوړې
نن دي له سرو سکروتو ډکې دعدن لمنې
مينې مې تارپه تارلمن کړه دشيرينې په نوم
لکه پرتې وي څيرې ويرې دکوهکن لمنې
دژوند په ناوې به سبا ووروم ګلونه
خيردى که ډکې له اغزيو مې دي نن لمنې
سترګې مې ستا په لوري وختې خوګرم نه يمه
دغر څنو سترګې خوځاري دختن لمنې
دوخت قارون مې په ګوهر داوښکو نه مړې
تر ې ډکوي سحر، غرمه اوماښتن لمنې

دوطن غېږکې مې د زړو نو عقیق ووریدل
ورته حیراني دي له ورایه دیمن لمنی
دادهجرت خړې خیمې به تروصاله رسي
آخر به پلنې کړي دګلوپه لمن لمنې
سوي چمن ته به سپرلی درنګینیوراشي
پېغلې وږمې به ډکوي له یاسمن لمنې
فضا به بیاشي مسته مسته په نغمو دمینې
بلبل به ډکې کړي په ځالو دچمن لمنې
کاروان بنوته خپرولې دي اینې داوښکو
په کې ځاړي آشنایه سنا دخوږ دیدن لمنې

۱۳٦۷/۲/۲۵ تنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقي ته

ساقي راشه سور اور مې په توبې ولګوه
مخموريمه منګولې په ښالې ولګوه
په سپين سبا وروغزوه لاس دپلو شو
دژوند تياره مانښام کې لمې ډيوې ولګوه
مجنونه ! که ليلا غواړې را څه ،راځه، راځه
دخوږزړګي په دښته کې خپمې ولګوه
ګربوان دې راته څيرې کړ،خويوسه داډالی
دچاکمنام مزار باندې جنډې ولګوه
مضراب دخوږې مينې شه زړګيه دکاروان
په چوپو ربا بونو کې نغمې ولګوه

۱۳٦۷/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاته راغلم

تلوسه مې يوپه دوه شوه تاته راغلم
مړه دصبرمې ډيوه شوه تاته راغلم
تنيدل مې زده داوښکو ستورو نه وو
شپه دکال غوندې اوږده شوه تاته راغلم
په قدم قدم غماز راته مـــغل و
زمامينه پښتنه شوه تاته راغلـــم
دزړګي په خم کې څاڅکی پاتې نه شو
هره اوښکه مې پياله شوه تـــاته راغلم
ماساتله پټه مينه پټه نه شـــوه
دخوشبوغوندې خوره شوه تاته راغـلم
ستا په لاره کې مرګی راته په ګوابن و
خو جذبه مې بدرګه شوه تاته راغـــلم
دهجران غشي يې نورزغملی نه شول
زاره چاودې مې نغمه شوه تاته راغلم
يوکاروان دارمانو مـې راوړی
که منظوره مې جرګه شوه تاته راغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ساقی سوي لوي زړه ته لږارام را
چې تش کړی مې یوجام نه وي بل جام را

ستا دزلفوپیچ وخم کې بـــه څو گیریم
یو رنگین غوندې سحرد دې ماښام را

وخته ډېرې دې د زهرو پیالې راکړې
څه خوسرې میگونې شوندې دگلـفام را

چې مې زړه بنکې وکړي تټرپـــرپږدي
ډك دمینې په دې مړو سترگو ســلام را

شاعران مې چې الهام له نغمو واخــلي
دشاعر حسن څښتنه څه الـــــهام را

څوبه سترې لالهانده کاروان گرځي
سرمنزل دخوږې مینې په یوگام را

١٣٦٧/٤

آزادي ښکلوم

گلونه سوي دي اغزي ښکلـوم
خزان ځپلي پسرلي ښکـــلوم
اوښکي کرم چې په کې شنه شي گلان
دخاورولاندې بوزغـلي ښکلوم
دیارکوڅه کې لپونی مې بولي
خاندمه کاڼي په تندي ښکلوم
چې له ژړا نه مې نغمې کړي جوړې
ناسورزخمونه دزړګي ښکلـوم
حسنه ! له عشق نه مې ګیله مه کوه
چې ببرسري لپـوني ښکـلوم
زه دساقي دمیو نه یم عـادت
دافغاني ګودرمنـــګي ښکلوم
خوب غرڅني شورانه وتښتیدو
دچاپېریال آه وزګېروي ښکلوم
نادان کاروان به بې غزل ګڼي خو
دزړه په وینو آزادي ښکـــلوم

۱۳٦۷/٤تمي دنریزې کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه مسته ترانه

دانن څه مست اومخمورېم ، چې له ځانه ګران ته راغلم
له اغـــیارونه بې بـــاکه ، په دګر جـــانان ته راغـــلم
که هرځویم اوښکه اوښکه ، نوره هیلوراســره دی
یوامپل یمه جوړېږم ، په ګډا ګرېوان ته راغلم
دیوسف(ع) خوشبو کمیس یم ، روند یعقوب(ع) بینا کومه
دقاصد په لاس کې خاندم ، بنایسته کنعان ته راغلم
هغه ښکلی ښکلی ، ښکلی ، چې یې بدنظر ، ونه خوري
وې ! چې مایې سپېلنی کړه ، چې دې سوې ځان ته راغلم
چې په وچ ساحل ګلونه ، ددیدن راو تو کیږي
دارام دریاب له غېږې ، په څپوطوفان ته راغلم
دسحردلرشغله یم ، په جګ غره راو اوښتمـــه
رقیبانو ته سورا ورشوم ،چې ستاسره پېژوان ته راغلم
یوناسورغوندې پرهروم ، دزړګې په تل کې پروت وم
یوه مسته ترانه شوم ، لېوني کاروان ته راغـــلم

۱۳۶۷/۹/۱۲/۱۳ تنې دنریزې کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګله درځم

دژوند په بناخ کې دزړه ګل يمه شوکوې مې ولې
بيا به ارمان کوې دشنه پسرلي ګل خونه يم
زماني بنګلوته مې دودکړه سيپلنی خودې کړم
ايله چې سترګې توروې په ما کجل خونه يم
زړه مې پښتون دی چې بېلتون ته مېلمستيا ورکوې
رقيبه پوی دې په جفا يمه پاګل خونه يم
دتکيه ستنه شه بدنه ديتيم دکورګي
ماران دزلفورانه تاوچې وې صندل خونه يم
خيردی که وخت راته په دښتوکې اغزې وکړل
ګله درځم هغه کاروان يمه بدل خونه يم

۱۳۶۷/۷/۹

گله وخانده

زه دې اوښکې اوښکې توی لکه شبنم شم
گله وخانده چې ستا سره همدم شم
ستا په تورکه په خنجر قلم قلم شم
آزادسریمه په خدای که ورته خم شم
پښتانه مېلمه نظرته مې موسکی شه
هسې نه چې رقیبانوته دې کم شم
یوزړګی یم ډک دزړونو له فریاده
درباب غوندې چې سرپه زیروبم شم
ښکلیه دادې څه انصاف دی ته وخدای چې
زه چې ستا جفا، جفا بوله ګرم شم
لېونی مې دشیرینې په سربولې
دفرهاد غوندې چې غرونو ته اړم شم
اوس که وینې یم خوشین به له خندا شم
زه به خال په غونډه زنه دصنم شم
یوغزل یم خو باور مې دی کاروانه
چې به سوولوو زړونوته مرهم شم

۱۳٦۷/۱۰/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوطن مينه

زخم دزړګي مې له مرهمـــه ځي
اوښکې مې په تا پســـې صنمـه ځي
بيا دهجرتو نو قافلې راغـــلې
خدای(ج) خبر اغزوکې به ترکمه ځي
يا الله چې حال به يې دروح څه وي ؟
څوك چې له مونس اوله همد مه ځي
بل يې په جنت اور دوزخونو کړ
داچې له ګا ونډه اوله چمه ځي
دوديې دباروتو تاوله زړه نه شو
رنګ دسروګلونو له شبنمه ځي
مينه دوطن مې لکه سيوری شوه
هرچېرته چې ځم راسره سمه ځي
داخومې کاروانه دزړه وينې دې
څوك وايي چې رنګ مې له قلمـه ځي

١٣٦٧/٩/٣/٤

زمی ۱۳٦۷ ،دهفه شپې په سهار چې گروموف ،دسالنګ قصاب ، دسالنګ په لاره کې نړۍ شپږسوه افغانان واړه ، زاړه زلمي په شهادت ورسول کلي لوکوړونه بې وران کړل.

په کابل څه تېرېږي ؟
په سالنګ څه تېرېږي ؟

زمهریرمښت ودکابل په جنت
تالاوالاوهفه زېب اوزینت
چې له ښکلانه یې کیسې وې ډکې
دکابل جان له ښکلا
ډبرې سینې وې ډکې
نن په هغه جنت کې
تنکي تنکي ماشومان
لکه تنکي ګلونه
سخته یخنۍ کې رپیدل رژیدل
اودتورسرولهببروسرو
دمرګ په سختو اویاغي سیلیو
دژوند تکري لاندې ترپښوپرپوتل

دوږو تږو چيغې پورته وې خو چا اوريدې ؟
دحاکمانو لاس کې
دزړو ميوشنې پيالې کړ نګيدې
ډک ډک خمونه تشيدل ، تشيدل
دوريت کباب په سينه
تېره سيخونه پورې هوډې وتل
هېڅ ملامت نه وو دوخت حاکمان «....!»
په دې نشوکې دماتم غږونه چا اوريدل ؟
چې دګناه په لاس کې تشې شوې دميو پيالې
دمزه دارکباب قحطي راغله
دپولادي شويلو نسونه تش شول
افغاني وينوته له تږو سرو بمونو ځنې
دميک جازونو وزرونه تش شول
دمستومستو حاکمانو په خوله
ناړې سورې شوې چې موږه پروړې يو
جوړې لښکرې شولې ګډې وډې
دسالنګ لاره شوه په شويلو ډکه
دهريو توپ له ميل نه غم وريده
پاس له اسمانه جهنم وريده
په واورو پټ سالنګ په اورکې پټ شو
ژوندون دمرګ له وېرې ګور کې پټ شو

بيا دشين سترگو سترگې سرې شوې دافغان په وينو
هغه په سوله مـين (.....!) لامبې دانسان په وينو
هغه له وچوسره تاندې سپځې
دژوند تنکی تنکی غوټی هم لکه سپاندې سپځې
دسپينو واورو په ټکري پټ يخ نيولی سالنګ
دسرو دپوانو دباروتو په اورلولپه شو
آه ... دبې قدرو په لاس
په سپينو واوروکې توتې توتې زړګي پراته وو
لکه دښکلي بدخشان ځلند غمي پراته وو
دژوند ګلونه په سوونو ترمې ترمې توی شول
دغريبانو افغانانو خړدخاورو کورګې
اوس ورنه رنګې کنډوالې جوړې شوې
اوس په دې لارځې ددبوانو لښکر
چې تاريخي ماته يې وخوړله پښې وکاږې
په شا راګوري نه ارم پرېږدي
په حريص زړه باندې لوی غم پرېږدي

شړی ۱۳٦۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

قافله

په لاره تلمه په ځان نه پوهيدم
راباندې څښتل نوي غزل جامونه
لکه چې ښه مخمورنوش کړي وي څه شل جامونه
ګلونه هسې هم ګلونه ووګلونه پربږدئ
سپېره اغزي هم راته ګل ګل کيدل
الماس دپرخې يې په څوکو ځليدل ځليدل
باغ کې دزړه مې دغزلوتوري
لکه صفا رنګين بڼکې مرغان
په نغموسرو والوتل الوتل
اودمسروپه غزيدلوځانګو
يويو راتلو او کپناستل کپناستل
په دې فردوس کې مې لاځو ګامه اخېستې نه وو
لاستړې روح مې ارام کړی نه و
چې يوې غمجنې سوې لوې کړيکې
رانه رنګينې نشې يووړې يووړی وبوږنيدم

داحساس لاس مې لکه پانې غوندې وړپيده
دغزل جام مې په عدم کې شو توی
او په دې کړيکه
دقافيو رنګين بنکې مرغان والوتل
دمسرو ځانګې خچې پچې شوې څه پاتې نه شول
دزړه نقشه مې شوه يودم بدله
هغه ګلشن په کربلاشوېدل
هغه خيالونه خندیدلي شول ټول ويښې وينې
زما احساس شو پرهرژلی داسې
لکه حسين وې په سينه خوړلي
ديزيد يانو غشي
*نورنوځه وو خو اثرروو
ددې سوې لوې کړيکې
چې مې زړه شوې چړونه
ژوبل ژوبل ليکې ليکې
زمانښکلی کلی پروت و
داوچتو غرونو غېږکې
درمندوکې يې ځوانان وو راټول شوي
لکه هېرچې شي يتيم نه
ټول زاړه زاړه غمونه
داسې دوی په خندا سروو

ددې کلي په لمن کې
بس په څنګ دهدیرې کې
چې جنډې دشهیدانو
رپیدې لکه کوترې
غزیدلی یوه لاروه
تکه سپینه لکه تکه سپینه لپچه
دهجرت دقافلویې ووښکل کړې
په زرواره قدمونه
خولاهغسې پرته وه
ښکلول یې قدمونه
دمینو دمهجورو
دپښې یېلو
دسرتېرودسرتورو
ددې لارې په سم منځ کې
یوزلمی پښه په رکاب و
سره اورسوی و ، کباب و
کوریې رنګ په اضطراب و
دهجرت له قافلې و، لرې پاتې
په زړګې یې ګرځیدلې
دخپل کلي ګودې ماتې
ستړګې سرې لکه دیوې یې

هديرې ته واړولې
سريې پورته کړجنډوته
بيايې تيټ په احترام کړ
څه دعايې وويله
يو ناڅاپه يې په غوږشو
دخنداووآوازونه
پټ يې وويل په زړه کې
خدايه شکرچې خندا هم لاژوندۍ ده
سترګې برنډې برندې پاتې
په ځوانانو کې ګنډلې
زړه يې خپل کلي ته لاړو
په کوڅو په کنډوالوکې
په پراخو درمندوکې
په پټيوپه باغوکې
لېونی لېونی ګرځې
کله شين شي له خندانه
له ژوندي يارسره کېنې
يو ناڅاپه بيا غمجن شي
له زخمي يارسره کېنې
کله وژاړي په کړيکو
دشهيد جانان په قبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوې بلې کړې داوښکو

اوکتاریې په مزار کړې
زړه یې ډېر وګرځیدلو
دخپل کلي په ګودرو
لکه تږی مرغه بیا ببرته راستون شو
مالیده چې دتمر پنجرې ته لاړو
مخاطب مې شو دکلي هریو ځوان ته
او په کړیکو کې یې ووې
" عالمه یو تریل جارپږی ء
مادمجلس یاران لیدل چې خاورې شونه "
چو یې وویل اواس یې
دهجرت په قافله پسې روان شو

(۱) نومورې آزادشعرپه دووآهنګونوکې راغلی دی .
۱۳٦۷/٤/۳ تنې دتریزې کلی

خزان ته!

وخانده اوخانده خزانه راته وخانده
ستا له ژوبل ژوبل پانې پانې گل نه زار شمه
ستا په تښتېدلي رنګ مـين يمه
اى ژيړه خزانه راته وخانده
اى د رنځورانو ترجمانه راته وخانده
ستا دولى ژيړې نرۍ پانې چې رپ ،رپ کوي
ماته دجونګړو رپېدونکې ډيوې يادې شي
جوړ مې له احساس نه شي ياغي پتنګ
ساه واخلي ژوندى شي په خرخونو شي
واچوي اتن د پلو شو د سره ګنيد لاندې
لولپه شي وسوځي لوخړه شي
پټ د رنو اوښکو په مزار کې شي
شمع رپوي پرې دلمبو جنډه
زه يې دمزار په سر
ستا د پانې پانې گل په خبر شعرونه وشيندم
اې خوږه خزانه راته وخانده
وخانده اووخانده
زار دې ديتيم غوندې خبرې نه شم
زار دې له سپېر ورياغي يادونو شم

نه دي د چنار زريني پانې دا
پورته په آسمان کې چې ګډا کوي
دغه دطلاووزرين توري دي
ښکل يې کړه په شونډو داسمان پانه
وليکل شعرونه ليوني شاعر
اې دليونو څيري ګرېوانه راته وخانده
وخانده اووخانده خزانه راته وخانده
ته خو يو فردوس يې خو په غېږ د دوزخونوکې
ژېړ زېښبنلی ګل يې دا غزوپه خنجرونوکې
ته خود شاعر د ډك زړګي فريادي کړيکه يې
اوښکه يې سلګی يې دخندلي زخم څېريکه يې
ای ديوه ترخه ژوندون داستانه راته وخانده
وخانده او وخانده خزانه راته وخانده

۱۳٦٥ /۷ /۲٦ تنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقۍ نه

ساقي ډکه پيمانه را واړوه
غرقې سترګې مستانه راواړوه
په رباب دزړه مې ښخې کړه منګولې
په کې سوې ترانه راواړوه
ميخانه کې کوثري اثرپيدا کړه
په شرابو زمانه راواړوه
زه ملنګ ستا ددين يمه راغلی
دسروشوندو شکرانه راواړوه
پيغلې حورې دجنت ، اوښکوکې لامبې
داتسې دانه دانه راواړوه
چې په روح مې دموسکا جلوې خورې شي
مخ دې څه په بهانه را واړوه
چې دښکلو زړونه نرم شي کاروانه
يوغزل عاشقانه راواړوه

۱۳۶۸/۹/۱۲ تنې دنريزې کلی

ژورکوهی

لکه دسروتنکو گلونو په وړوکي باغچه
لـه پـــاسه بـم راشـــــي
اوپه کې وکيني په خپلو اوسپنيزوپنجو
يو ډبرتياره اويوژورکوهی
په دې ژورکوهي کې
هغه تنکي هغه پی مخي ګلان
چې دمـين بلبل خوږو نغموته
لاډسپرلي نسيم په نازناز نخولي نه وي
هغه تنکي هغه موسکي ګلونه
دلومړنی تنکی موسکا په غېږکې
دخپل ځيګريه وينو ولمبيږي
مرګ يې دژوند کډه ژور کوهي ته ولېږدوي
اودمين بلبل په ستوني نيمه خواشي پاتې
دخپلې تاندې تنکی مينې نيم بسمله نغمه
داسې زما په زړه کې هم جوړشي دغم په ګوزار
له تکو تورو وينو ډک يو ډبر ژور کوهی
په کې غرق شوي ارمانونه اميدونه زما

په کې چاودلي حبابونه دي دژوبلو هیلو
دبنیو ګانو په تار
تري راوباسم سلواغې داوښکو
زما داوښکو په دې هرسلواغه کې راځي
دښکلي یاردیدن ته
دناکراړو تلوسود پرهرونوویني
که هرڅو چیغې اوناري ووهم
زمادا ډك زړګوتې
نه نه دغم دغه ژور کوهی تشیږي کله
په درد مین شم خیال مې وکړي د پرواز وزرې
یتیم فریاد ترعرشه ورسوم
یولپونی شاعرشم
اودا ژور کوهی تشبیه کړمه زه
درنګ له ډکې مشوانۍ سره
دشعر قلم تري ډکوم خوازه شعرونه لیکم
ګوندې دچا په زخمي زړې ونوباندې
لکه دزخم پټې ولګیږي

۶۸/۱۲/۱۹ دتنیږو دنریږې کلی

مه گوره

زړو نو ته هم گوره اشناتش مخونه مه گوره

هسې نه خطا شې کاغذي گلونه مه گـوره

ښکليه که دمينې او الفت سره دې مينه وي

مينه ښکلوه خوتش اوډك چېبونه مه گوره

داڅنګه خمار دی چې په سرجا مونه واړوي ؟

کوم ساقي ويل دوينو ډك جامونه مه گوره ؟

تاکه د خليل عزم پيدا کړو نو گلزار به شي

ژبې دې را باسي دنمرود اوروڼه مـه گـوره

نه خوپسرلی يې نه خواوښکې ورولی شې

ځه! په وچو سترګو دلاله داغونه مـه گوره

دا «غنچې » «مهجورو» بلبلانوته هجران گالي

تکه توره زاغه سترمن باغونه مه گوره

وخته يو يادگاردی دجانان په درکې پاتې دی

اوس مې دشکيدلي گرېوانه تارونه مه گوره

ته چې د زړګي ډيوه کې وينه بلوی نه شې

مه راځه دعشق د خوږارمان قبرونه مه گوره

زه دلېونيو له کاروان سره راغلـی يم

مست قلم مې گوره دا ځيبه لاسونه مه گوره

تنې دچور کوندې دڅنګل لمن ۱۳۲۸/۹/۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترانې

په ترانو چې زمانې جوړوم
يم لېونی چې ترانې جوړوم

مړه شوه په ښکلي کې جذبه دجنون
څله داوښکو زولنې جوړوم ؟

دښو غشي به دې تيت شې راته
سترګونه بر ندې پښتنې جوړوم

بس دی پرواز کوم تر څو پورې به ؟
له خط اوخال دام اودانې جوړوم

نه شته توبې تش په نامه توبې دي
سافي ويل چې ميخانې جوړوم

يار مې په خوب کې هم سلګی چې وکړي
داسې غمجنې افسانې جوړوم

خوږ دی اغیارته یې کړې زهر مولۍ

افغان زړګي نه پیمانې جوړوم
له پښتون عشق سره مې و کړه وفا
څوبـه دیدن ته بهانـې جـوړوم
زه مهاجر په کې ستامخ ته ګورم
له سپینو ستورو آئینې جوړوم
ګل مخیه سنا په یاد اوسپړم په کـې
داچې اغزو نه کا شانې جـوړوم
تا لاوالایې کړې کاروان دسلګو
یارته چې زه ګیلې مانې جوړوم

۱۳٦۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

وينې

کړې يې تمامې دا نکورو دبا غونو وينې

نن دساقي په جام کې وينمه دزړونو وينې

پرون دې خال ته وړې زما د پرهرونووينې

خونښ دې ښکل نه کړې دشونډوپه سرونووينې

چې په غزل کې مې ذره تغزل پاتې نه شو

چارانه لوټ کړې درنګينو غزلونووينې؟

سپرلی خونه يې دسپرلوپه وينو ولمبيدې

قاتله ولې تويوې دسروګلو وينې

دسالار وينې دچنګښزخېمې ته نه رسيدې

اوس تويوي دلالها نده کاروانـــونو وينې

چې دکباب مزه يې ګډه شي په کيف دميو

په سرو لمبو کې پخوي دځيګـــرونو وينې

راشه جهان راپسې پس له مـــرګه مه لټوه

هغه دی قې مې کړې ويشتليو فريادونو وينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه بې پروا دې وشکاوه زما له زخمه دسمال

شوې مې خورې ورې په ډېرو وطنونو وینې

دوصال ناوې راشه خال که په تندې لګـــوې

هسې نه وچې شې زما دهجرتونو وینـــې

په خدای وېر برېم هسې نه چې زړه مې تق وچوي

سل اوزر څاڅکي نه دې ځې په ملیونونو وینې

خود به کاروان دمرثیو او دویرونو شمه

پولادي غشي تویوي دارمانونو وینې

۱۳٦۸میران شاه

اسويلی

دا گناه مې وه چې تاته سپېلنی شوم

اوس مې ښه په کانړوله لېونی شوم
غرڅنی غوندې په کومه رانه لاړې
ببر سری په غروګرځم غرڅنی شوم
چې پېرزو دې یاره ولې په مانه دی؟
ستا دیدن ته سترګې سترګې اوزړګی شوم
کوه ناز خوبیا به ډیرګلونه راوړې
پس له مرګه چپر ته زه که راژوندی شوم
راشه مه وېرېږه ګل مې داوربل کړه
دا خوهسې رقیبانوته اغزی شوم
وینم خوب وایم چې زیری مې دربانـدې
په سینه به دې زنګېږمه ځوندی شوم
دځیګر کباب مې وخوره دیار غمه
زه په مینه کې سخې او مېړنی شوم
هغه ورځ به دجنت وي چې ته وایې
خانده خانده ستاد هیلو پسرلی شوم
چې یې خوله غواړمه وایې لرې لرې
دشیدودسر پېروی یم تـــنکی شوم
عاشقان به مې غزل دکاروان بولي
زه له زړه نه راوتلی اسوپلی شوم

۱۳۶۸

پسرلی راځي

چې ډيوه مخې يار موسکی راځي

دمابنامونو مخ رونی راځي
دزړه کودي کې مې ساتلی ورته
په تور پېکي به يې بيری راځي
راځي فردوس نه دښکلاپرښتې
په خوږ وطن مې پسرلی راځي
روغو دمينې احترام بې وکړی ء
دجانان درته لېونی راځي
مهجوربلبل به تنده خود ماتوي
دګل په لاس کې کندولی راځي
پرون چې مات و دجفا په کانو
په غنچو پټ هغه تندی راځي
له پاسه غږراځي چې سرنه شي وړی
دابشيا زړه ته چې پردی راځي
د آزادی پېغلې نارې هم شي
په سريې نن نسبا نکړی را ځي
له ګل غوټو نه به مچکې واخلم
خير دی که پوندوکې اغزی راځي

بنکلیه که اوس مې ویښ کړې عفوه غواړم
بیا به نه درد اونه زګپروی راځي
کړویې راویښ دا میدونو کاروان
دزړه جرس کې مې شرنګی راځي

۱۳٦۸ تنې دنریزې ئلی

غونبتنه

څومره دې له خدايه په باربارغواړم
څه وکړم خوزړه ته مې قرار غواړم
«ستر ارمان لرم چې آواره ګرځم »
خلکو دجنت غوندې ديار غواړم
بيا چې غرځنی ګلوکې ورغړې
سوو لوو دښتو کې بهار غواړم
ډبر په تنها يې کې بوږنيد لي دي
جوړ په هر ګودرلنډۍ بازار غواړم
مرم دچتو ژنيو په اتن پسې
چيغې د قربان اويکه زار غواړم
سترګې مې چې ډکې له ګوهرو دي
زه خو دينارنه غواړم ديدار غواړم
ورك خوارې ياران چې سره بيامومي
پټ په تورو شپو کې سپين سهار غواړم
داغ نه يې مچکې چې بورا واخلي
مسك په سرکو شوندو لاله زار غواړم

ما چې دا حساس په تار کې وهېده
زړه مې دمحبوب په غاړه هارغواړم
ولې مې غلام خاندي په عشق پورې؟
ژوند دآزادۍ که نه وي دار غواړم
داچې دغزل ځیګر مې وینې شو
وینې یې سر خي سترګې په رخسار غواړم
نور په ناسور زخم غشي وړې نه شم
اوس ورته دمینې پرستار غواړم
ورك به مې کاروان په ډیرو لاروشي
زه ورته یوالار اویو سالارغـــواړم

۱۳۶۸/۱۰/۱۷

دعا

په هر درشل به لکه خوږ باد د سباتپريدم
سوراسويلی شوم چی په سيمه داشناتپريدم
دژوند صحرا که وه اغزنه خودګل په ارمان
زه دتنها کوپه پنو کې په صحرا تپريدم
دمحبت کوڅه کې کانې په تندي وريدل
خامخا زه به لپونی وم په خندا تپريدم
عشقه دا څومره دې خود دار کړم چې له سنګلي ساقي
دمودو تږی وم خو بيا هم بې پروا تپريدم
ديار دسترګو په زيارت کې وې داوښکو ډيوې
زړه مې په نذر کې و اينښی په دعا تپريدم
زړګي ويل دميو جام يم خوساقي مې پردی
جانان مې پاتې شو اغيار ته په شرنګاتپريدم
دلاله زار ځايونه ونيول دوينوڅپو
د ا زما دښتې وې که سم په کربلا تپريدم ؟
چې وريت مې وليد دبمونو په لمبو کې پتنګ
شمعې ويل چې اوښکې اوښکې په ژړا تپريدم
ستړی کاروان وم خوپه خوله مې داد عاورېده
خدايه دلارې مل مې راولې تنها تپريدم

۱۳۶۸/۵/۱۳ وړی خپسوړ

داوښکو سپرغی

لږمې درپټ کړه د لمبود لوپټو په لمن
پټنګان تل کوي ځوبو نه د ډيووپه لمن
زما دزړه په وينو ښکلی شوې خونخواره ا شنا
پخوا دې کله وه سرخي د اننګوپه لمن
په تږي زړه مې کوثري سترګې راوورړه
بس دی داغونه لګومه د تو ښوپه لمن
راوړه لښموته دکږو بنو په څوکو ديدن
پټري لګيږي تل دماتو کچکولو په لمن
توتې توتې زړه مې راټول کړه چې يوه غنچه شي
چې درنه پرې نه وزي تږه يې دکمځو به لمن
دغمازانو په خندا بـــه لمبې ولـــګوم
سپرغی داوښکو بلوم دا سو پلو په لمن
بتانو زيری مې درباندې ابراهيم به رائي
بيا به پراته وی٠ درې وړې دکعبو په لمن
لکه شهيد چې دګلو نو په ځادرکې وي پټ
څوبه غمجن ګوروګلو نه دسپرلو په لمن
حسنه په قدر دې يوازې لښونې پوهيږي
عشق ورښودلی دی سبق د زولنوپه لمن

بیګا مې خوب کې وچې څانګې په ګل پتې لیدې
سبا به سپینې لېچې راوړې دښګرو په لمن
د آزادۍ لیلا کاروانه خال په زنه غواړې
دوینو څرګـــــندې که څرګندشو دنغمو په لمن

پېښور کبابیان ۱۳۶۹

د آزادی شمعې ته

د آزادی شمعې بلیږه اوځلیږه راته
په تکو سروشونډو موسکی شه راته
په هره اوښکه کې خندیږه راته
زه ستا دمینې یولیوال پتنګ یم
زړه مې لوګی شه له تا
او آزاد سرمې نذرانه شه ستا دښکلو لمبو
ستا په لمبو مسین یم
ستا په رڼامسین یم
که ستا په سرو لمبو کې لولپه شوم
نودلمبودسره ګنبد لاندې مې غلی پربږده
پربږده آرام وکړم
خوږابدي آرام
راباندې جوړ کړه دسرو اوښکو مزار
او په هر ګوټ باندې یې وږپوه
دسرو اوشنولمبو رنګینې جنډې

دزړه کېږدی

مادا احساس په دښته

دغزلونو دګلونو خواکې
د زړه کېږدی درته خوره وره کړه
ته په کې اوسه زما مسته زما بنکلیه یاره
په تورو څنو کې کتار لګوه
زمادښکلو غزلونو ګلان
چې دشپې ستوري درنه وشرمېږي
کله ناکله دکېږدی لمن کې مخ راباسه
له تکر تورو اوږدوڅنونه یلدا جوړوه
دجنتي حورې په څېرتنکي نازونه کوه
دومره خوږه شه راته
لکه په شوندو دیتیم وې غځیدلې موسکا
خو ... یوه خبره زماهم ومنه
دلته به اخلې قدمونه خودمینې په نوم
ته به له خپل حسن نه مسته شې بدمسته به شې
ددې کېږدی مراندې به وشوکې
خدایږو دځان په خاطرنه وایه
بیابه دنازخوښونه چېرته کړې؟

۱۳۶۸/۸/۲٤ پېښور، صدربازار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دموسکاساحل ته

لاله په یوه.پښه دي ولاړ د دامانوښتو په سر
لکه چې پپغلې وي ختلې دماینو نو په سر
ګلپانو غبرې سره ورکړې پاچهي شوه دګل
نسیمه والوزه دغوڅو غوڅو زړونو په سر
مین بلبل دهجران غشو په سینه ویشتلی
خوب یې حرام شو دغوښتو دبالښتونو په سر
دوزخي تندې ته مې کلکو توبو ماته ورکړه
ساقي سپرلی دی راځه تاوشو دخمونو په سر
زګیر ووکې ځکه نوم دښکلی په وارواز یادوم
دعشق سرودیې مالیکلی دزخمونو په سر
داستان دزلفو راته وایي دچوپنیا په ژبو
هغه ګډې ګډې بېري ددبوالونو په سر
راځې، منګو لو کې غنچې غنچې ګلونه ورکړو
هغوی چې کاڼي وروي دبهارونو په سر
خدایه! کاروان مې دموسکاساحل ته ورسوه
څپې څپې شو دسرواوښکو دسیندو نو په سر

پېښور ۱۳۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه

مه وله بنيښه په کـــانړو مه ولـــه
دا پاکه کعبه په کانړو مه ولـــــه
تږي پاتې تږي دي زاهـده پـــام
ډکه ميکده په کـــانړو مه ولـــه
څله يې يزدان تـــه په سلګو لږې
شکلی پرښته په کانړو مه ولـــــه
جام کې دې دوينو رنګ ګدګړی دی
اې ساقي !توبه په کانړو مه ولـــه
خدای په غزليزوګوتو جـــوړه ده
پوه شه در دانه پـــه کانړو مه ولـه
پربږده چې د ژوند بوراپرې وناڅې
دا دګل غنچه په کـــانړو مه ولـــه
چيرته بـــه کاروان دپتنـګانو ځې؟
مړه به شي ډيوه په کـانړو مه وله

پپښور ۱۳۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کړې وړې چې په اغزوکې ویالې وبهیدې
د ګل تصویر پسې رنې ائینې وبهیدې
سرخي دې مسته اننګو کې شوه چې اورانخلم
زماله زړه نه دسکروټو چینې وبهیدې
ساقي راځه چې له خمار نه مې زاره وچاوده
ژوندمې درجار که دې سخې میخانې وبهیدې
شپه به په نن سبا کې ښکلی سبا وزیږوي
لکه شیدې دشپې له تیو سپیدې وبهیدې
دپتنګانو دکاروان تنده یې ماته کړله
دموم لښتیو کې چې پیغلې لمبې وبهیدې

پیښور ۱۳۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما دروح دمنارې په څوکه

سړې ورمې چې په لمدواوعطر جنو ګوتو
د ګل غوټيو د ډې وتخنوي
له پاڼو پاڼو نه ماشوم خوبونه وتښتوي
چې وچې غوږ ګې په يو تاند پېغلتوب وغزبږي
او دمـين بلبل له مستې شرابي نغمې نه
حمل واخلي
چې ګل کاسې په سر ماشوم ګلونه وزبروي
دوچو وچو خزانونوپه اغزنوزړونو
ارغواني اورونه ولګوي
چې وچ زاهد وچو توبوته بهانې لټوي
دتاك په رګ رګ کې دمیو خزانې لټوي
چې داسمان په شنه درياب کې لامبوزنه سپورمۍ
لکه اروا ديوې شهيدې پېغلې
په نورانې منګولو
دشنه داونې له شنې ځولې نه بنکلی سپين ګلونه

درسولانو دایمان غوندې مهین ګلونه
د چامپینو دوعدې په بور نیټونکې ځمکه
وورو ي
چې دسپېدوله هسکو هسکو څوکو
لمر د طلاوو ویلې شوی سپلاب وبهوي
او دتیارو دفرعونانو طلسمونه یوسي
زما دروح دمنارې په څوکه
زما غزل دسپېلنیو په څپرو سوځوی ء
چې دښکلادقاتلانو په بدرنګو سترګو
مهرونه ولګوي

۱۳۷۰زمی

نریزې تنې

دورموبدرگه

خزانه خدای دپاره گل یمه مـــا مه شوکـوه
زماله تاندو گل غوتو نه موسکامه شوکوه
اغزیه پربږده له غنچونه چې مچکې واخلي
تنکي پاسته مـــاسته وزردبورامه شوکـوه
ته خبرنه یې ؟ سترمن سحراوده دی په کې
په پـولادي پنجودزلـفویلدا مـه شوکـوه
دډکو سترګوزیارتونـه دې لـیدلي کـنه ؟
دچا سپږوشوندوکې پټه دعـامه شوکـوه
دغوږرنې په شنه خال یې چې مه لګوه
دښکلاتوب له پاچهۍنه پاچـامه شوکـوه
هجرانه پربږده چې دیارکلي ته ورسـیږي
له مـینانونـه دمـینې سودا مه شوکـوه
دشنه اسمان دبحرپښغله دې غوتۍووهـي
دغریبانو له اوږدو شپورنـا مه شوکـوه
چې بدرګه یې دورموځې له کاروانـه سره
دغزلونوڅانـګه ګل ښـه ده دامه شوکوه

٤/ ١١/ ١٣٦٩ پېښور

پېغله شوګيره

چې دخمارپه کاهو زړه لکه ښيښه ماتيږي

مابسم الله په څښلو کړې ده توبه ماتيږي

شوګيره پېغله شوه ارمان ته ځي په سره ډولي کې

وينې يې قی کړې دمشرق په څنډوشپه ماتيږي

بياراته ولي دغزل غـزال دنازپـــه غشـو

کړه وړه په کرشمو لکه لـــينده مـــاتيږي

دعشق ساحل غبرګي ټيولي نه وي بيا ودانګي

بنـکلي دسيندمسته څپه ده په ستنه ماتيږي

نسيمه ته خودخزان دسيلي چم مه کوه

غوږګي دګلوبارپه شادی په بانه ماتيږي

خودبه دخيال په تشولپچوياندې سرلګوم

دلېونی پېغلې بنګړي غوندې . وعده ماتيږي

زما په څيري ګربوانه ستا د پنجوقبضه ده

وا پس مې زړه ته دګوهرو قافله ماتيږي

په سريې واچوی ملګرو دغزل پوړنی

دسترمنې پښتوخدای مه کړه پرده ماتيږي

ستا د ديدن دتلو سوکاروان په غبرګي ټيسه

چې يې تندی ستا ددرشل په دروازه ماتيږي

۹۱/۲/۱۵پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنورچینه

که دمینې یونظردې په ماوشي

وچ زړګی به مې دنوریوه چینه شي

جاردې وله مې که غشي دې باڼه شي

پرپرده پرپرده چې لېمه دې په ماسره شي

حدای خبردی چې دې موړپه دیدن شمه

مګرداچې که مې ټول وجود لېمه شي

داوږدوځنوپه شپه کې مخ ډیوه کړه

هسې نه شوګیر وهلې به ړانده شي

ساقي جام ورته د موسکو شوندو راوړه

محفلونه چې سارې نه شي تاوده شي

ددا غونو پسرلی ته مې لږراشه

چې ځیګرمې لاله زارغوندې لمیه شي

دعدم په لوري درومي په موسکا شه

چې دهیلو کاروانونه راستا نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيوه مخيه پتنګان دمستې مينې

ښکلوي دې که هرڅو سوي سکاره شي
ښکليه لږخودساحل غاړې ته راشه
چې جذبات مې لکه سيند څپه څپه شي
خندوي به مې کاروان داوښکو هاله
چې دخورلکه امپل په ګرېوانه شي
مستغني به مې کاروان له بدرګوشي
دجانان دنظرغله دې زما مله شي

١٣٦٩/٣/٢٤

دهندارومانۍ

هلته په بن کې وه ولاړه دهندارومانۍ
هغه چې خدای وه جوړه کړې دښکلا په ګوتو
په دې ښکلوکې ښیښه یې مانۍ کې
یوه له ټوردۍ سپوږمۍ اوسیده
یوه رنګینه دیناګۍ اوسیده
کله به ی هارد سپینو ستورو په ګریوان زنګیده
کله به ی ټال د سروغوټو په ګلستان زنګیده
په دې مانۍ کې دنغمو مرغانو ځالې وکړې
له دې ښکلوکې ښیښه یې مانۍ نه
د پسرلي وړموځولۍ ځولۍ عطرونه یووړل
له دې مانۍ نه چا مینو له دیدنه لیږلې
پتې وهلې کچکولونو یووړل
خودا مانۍ دغه رنګینه مانۍ
چې خدای په خپله جوړه کړې وه دمینې په نوم
په غزلیزو ګوتو
چادکینې په کانړو وو یشته ذرې ذرې شوه
په دې مانۍ کې اوسیدونکې سپوږمۍ
تندرونړوبنیوه تیاره تیاره شوه
د پلوشو وینه یې وځځیده مړه ډیره شوه

۱۹۹۱/۳/۸/۷پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګين سفر

موږ له تنهاکو زړونو
پښتونه پنې جوړې کړې
دژوند سپېره دښته کې منلې وهو
ږدو قدمونه دلحظويه اغزو
اوموږ په ښکلو مـين
ښکلې په ګلو مـين
په پسرليو مـين
دپسرليو مـينانوته ګلونه راوړو
* * *

موږ درنګين سفررنګين ملګري
دپسرليو مـينانوته ګلونوپسې
داوږده خوب اودچوپتيا کلي ته ورسيدو
زموږ په کلي پرښتې رڼوي
سپينې اوشنې وزرې
موږ درنګينو پسرلو ښکالوته
غلې غوږونه ايښي

۱۹۹۱/۴/۲۵پېښور

دنظرکډې

لکه دغره له باندو کډې بارشي
تشې جونګړې يې تنها شې پاتې
داسې زما دسترګو
جونګړې تشې پاتې
ستا دنظر هغه د دوو شپومهاجرې کډې
خدای خبر چېرته لاړې؟
زما دستر ګو دجونګړو دړې خلاصې پاتې
چوپه چېتيا ده تنهايې ده په کې
ستا انتظار ګرځې راګرځې په کې
د هربانه په څوکه
ډيوه داوښکو په سلګو سلګو ده
زما ژوندون خوبې تا
تياره مابنام دی لا اوږدېږي سبا کېږي کله ؟

په دې تیارو به سحر کله راځي ؟
ستا دنظر کډې به کله راځي ؟
ستا د وصال سحر به کله راځي ؟
منم چې ستا د نظر کډې خو ، به
ډېرې شیبې په رنګینو وارو ي
ډېر پسرلي به ورته شنه شي له خندانه منم
ډیرې لیندۍ به ورته ګډې شي په زیړاوپه بم
خوهغه زما د ژوبل زړه د پرهرونو ګلان
په یوبهار کې هم موندلی نه شي
هغه زما د نغمو سوزاوګداز
له مطربانو اورېدلای نه شي
نو دنظر کډې دې زر راوله
زه به دستر ګوپه جونګړوکې بیا
د ښکلواوښکو ګلان ووروم
ته دنظرد ډیو و
یولوی کاروان راوله
١٣٦٥/٤/٢٤ تنې د چور کوندې لمن داوبه خور غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهاجرې مینې

څنګوته درځي خوآه چې پښې دګل تناکې دي
وسوې دخزان په اور جامې دګل تناکې دي
یه زخمي بلبله دوصال سندرې وبوله
ماتې کړه پنجرې بکرې وړمې دګل تناکـې دي
پټ په کې دحسن آیتونه ژړیدلي دي
ښکل یې کړه په ورو ورو سیپارې دګل تناکې دي
بل کړه داسمان په اور دبلي سپوږمۍ دنور تیلې
سخ دتوروشپو دی چې ډیوې دګل تناکې دي
جوړ په کې غوږمنډ د پولادي آسونو څـله دی؟
نه وینې ؟ راندہ دي؟ چې کو څې دګل تناکې دي
زړه کې مې کاروانه د تناکو خپمې ټك وهـه
مینې مهاجرې دي خپمې د ګل تـناکې دي

۱۳۷۰/۸/۲

سپين کچکول

مړدې کړم ساقي په تشو تشو بهانو
اوس مې په کفن کې پټوه دپيمانو
ګوري به چې زړه مې بغاوت کوي کنه ؟
تنده خلاصومه دخمارله زولنو
جارله تخيل لکه ماشوم مې نازوي
سريې زما ايښې داشنا په ځنګنو
راشه سپين کچکول له شنې کړکۍ رازنګوي
ماوتابه وړې لکه دستورو ددانو
وخت يې ويرکې واغوندي دغم تورې جامې
بس چې افسانه شي د ډيرو د پروانو
جارشمه له ښکلي چې شوښکلی عزرائيل
اخلي رانه ورورو ستړې روح په ترانو

۲۸/ ۱۰/ ۱۳۷۰خيبرپلازا پېښور

سپينې سندرې

شرنګا جاري ده اولا چوپه نه ده
دلېونيو په باغې مړوندو
دتورو ، تورو زولنو شرنګا شرنګ
شنه بنګړې شرنګ نه کوي
په سپينو لېچوکې دي غلي ملي
لکه کوچنې ماشومان
په زړه کې پټ دشرنګيدوالف ، بې ، تې يادوي
يالکه شنه توتيان په بنګلو څانګو
ناسټ دي پستې پستې نغمې يادوي
خيردی که ژوند شو ددېوانوزندان
دتورو شپو چوپتيا به تل ماتوو
دتورو ، تورو زولنو په شرنګا
زمورږپنجرې ته هره شپه سپينه کوتره راځي
لکه اروا دخوارلسم دسپورږمۍ
دانبايسته ښاپېرۍ
تومبې ګلونه ددې تورو زولنو په کړۍ

لکه دخدای له خلیفه سره دعشق شاعره
دزولنو په پولادي ذهن کې
سپینې سندرې کړي .
له مسته شرنګه به کړۍ کړۍ شي
دلپوڼیو دمړوند زولنې
په سپینو لپچوکې به شنه بنګړي توپونه وکړي
لکه توتیان په څانګو
شرنګا به بیاجاري شي
دشنوبنګړیو شرنګا

۱۳۷۰/۱۱/۲

د پرخو تنبی

تنبی د پرخو دغوښی تیـــونه وتـــخـنول
پستوورې مولکه ماشوم ګلـــونه وتخنـــول
چېرته مـین شئ په شیرینه ښایسته پسرلی
په فرهادي تېشه یې ښکلي غرونه وتخنول
خدایه ورغوي دصیاد کې تېره غشي مات کړې
دالوت مینې دبلبل وزرونـــــه وتخنول
بیا به دخیال دښاپیرۍ په زنه ږدي خالونه
بیاسربیرو لېونو زخمونه وتخنول
ساقي دچاپه توبه وارپه وارګولۍ وروي؟
دمیوڅاڅکو ، څاڅکو تش جامونه وتخنول
زاهده پام چې دنغموښامار دې تك نه وهي
دچندنې رباب مطرب تارونـــه وتخنـــول
سنا دلېمو مسیحا بیا څه معجزې وروي ؟
چې دهوس چینجـــو دمړوزړونه وتخنـول
دتورو وربښو په ژړا پورې یې وخـــندول
لمرپه نوکارو دبودۍ تیـــالـــونه وتخـنول

حوت ۱۳۷۰ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زېړه وينه

دزړه په سرمې دي خوږلي دهجران تبرګي
په سرومې سره کړل دوصال دتصوراننګي
دروح په پاڼه مې په زېړه مهاجره وينه
په لبونې اوپه شاعره وينه
دعشق په پاکو تورو ولیکله
دخپل جانان دابدیت سندره
دخدای سپېڅلي خلیفه ته دالفت سندره
لامې په زړه کې زېړه وينه پاتې
لکه دزېړوزعفرانو په څېر
چامې دزړه له مشوانۍ نه قلمونه ډک کړل
له شکرانو نه يې جېبونه ډک کړل
ساده مسینو ته په غوړه اودرنه شکرانه
زما دزړه په زعفرانو تاویزونه لیکې

۱۹۹۲/۲/۲۷ پېښور خیبر پلازا

تلوسه

زموږ مینه دجنون سرحد ته ورسیده

اوزموږزړونه دکبانو غوندې
په وچه ژوندنه شي کړای
موږدانګارپه سریوخوب لیدلی
اومورد دار په سریو خوب لیدلی
څه شو یوسف څه شو ؟؟
ها خپلوورونو ځوررولی یوسف
هغه په څا کې غورځیدلی یوسف
هغه زموږه دخوښونو پاچا
غواړو دخپلو خوښو غوټې ورته وړاندې کړدو
اونظرماتې ته یې زړو نه لکه سپاندې کړدو
چې دتعبیراود مانا په ګوتو
کړې راته خلاصې دخوښونو غوټې
زموږدسوولوو زړو نو غوټې

زموږمینه دجنون سرحدته ورسیده
اوزموږزړونه.دکبانو غوندې
په وچه ژوند نه شي کړای
دلپونو خوښوجانان غواړو
دمینې ورکې قافلې ته یو څاروان غواړو

زمورږپه زړوکې نه ځا پيږې ددیدن تلوسه
داتلوسه شوه تلوسه تلوسه

لکه دمستې زلیخا په شانې
ږدې دمستۍ اود خمار ګامونه
دیوبې باکه پېغلنۍ په درشل
اودازمورږدتلوسو زلیخا هره شیبه
ښکلې یوسف ته دوې ملالې سترګې
دسوال ځولۍ غوړوي
خوهغه ښکلی یوسف

هغه زموږه دخوبونو پاچا
لکه ښکاري نه ترهیدلی غرځه منډې اخلي
اودحسینو ا داګانوپه زور
ورته اووه بندې کوتې خلاصیږي
دزلیخا پنجوته
تش دیوسف دکمیس
څیرې لمنه ورځې
اودحسین یوسف دخیرې لمن
په هرپوتار کې غځیدلې بربښې
دتلوسو داوښکو
دتلوسو دوینو
یو څو رنګین تارونه

۲۲/ ۲/ ۱۹۹۱پېښور، بورډ

دګل پانهو پتې

زه دې په توره شپه کې
د زړه په سرپه يوه اغزنه لښته ووهلم
زما د وينو داړې
د يوې د يوې شوې ستا ديون دلارې
ته بې پروا تپريدې
زما په خوادې يوه موسکې کتنه هم ونه کړه
خوزه په تايم مين
هرځه زغملی شم خوستا دخوږې مينې توهين
توبه توبه کله کيدای شي د مينو په دين
ما د د ردونو په نيلي ستا بدرګه کوله
دتنهايۍ په لويه دښته کې مې
يوازې پرې نه ښودې
اوما د ژوبلو احساساتو په تنکيوګوتو
ستا په دې کلك اوډيرين زړګي کې
دخوږې مينې تخم وکرلو
ستا په څېره کې انقلاب راولم
تاته يومست پسرلنی غوندې شباب راولم
چې داغزيو لښته وسوځوې
اَود تيارو داوږدو څنو لاندې
دسپين سبا لپچې راوغزوې
په ژوبل زړه مې دګلپانهو پتې ولګوې

۹/ ۱۰/ ۳/ ۱۹۹۱ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختړه کیسه نه پوهیږي

دمین زړه اوورك دلبرپه کیسه نه پوهیږي

رانه خندا غواړي اخترپه کیسه نه پوهیږي

په پېغلو سترګوکې دمینې کرشمې لټوي

دنړیدلي وچ ګودر په کیسه نه پوهیـــږي

غواړي چې مست شي په شرابو باندې ولمبیږي

خولېونی دمانۍساغرپه کیسه نه پوهیـږي

ملګرو خود به اوس داوښکو ډیوې بلې ساتو

دشپې واکمن دسپین سحر په کیسه نه پوهیږي

چامې په خوله باندې مهرونه دسکوت وهلي

یارمې پاګل شودنظرپه کیسه نه پوهیږي

چې مې کچکول کړې ورته سترګې موسکی ولې نه شو

ښکلی مغرور دقلندر په کیسه نه پوهیږي

کاروانه څو به ګیله من ګرځې لږداخوږاوره

بې قدرۍوخت دی دهنر په کیسه نه پوهیږي

٤/ ١٣٦٩داخترشپې ورځې، تنې، دچورکوندې ځنګل لمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندي ګلونه

سترګي دي پربږده چې شيندي ګلونه
ډبرمې يادیږي داژوندي ګلونه
ستا دکږو ښو په شپول کې راګیر
لکه اغـــزیو کې قیدي ګلونه
زه دجانان ددر په کانو مـین
پرپږدی، چې ښکـل کړم په تندي ګلونه
په تورو څنو کې يې ډبـرلګـــوه
شـــته مې دزړه په مات کودي ګلونه
نن که په ژوند کې راته موسکه نه شوې
سبـابـــــه راوړې د ریدي ګلـونه
ډېرې وعدې دې پـــه بـانه وخـورې
په کـــار مې نه دي دار دي ګلـــونـه
کاروانه زه ورته حیران پاتې یم
چې دادچا دغزل دي ګلـــونه

۱۳۶۹/۳/۲۵

داشنا هینه

سحرمابنام یې په سوالونو غواړم
ښکلی اشنا په زیار تونو غواړم
لکه شښنم یې منت بارشومـــه زه
ګل نه مچکې په لعلونو غـــواړم
ستا په درشل کې خوتش بدلیدل شي
خیرد دیدن په کچکولونو غـواړم
بهاریه څه کړمه بې تانه صـــنم
زه څو رونق دبهـــارونو غـــواړم
مـین زړګي مې وچ کودي نیـــولی
بیادې په ډکو ګودرونو غـــواړم
په ورځ مې هیرنه یې باور دې و شه
په نیمه شپه دې په نغلـونو غواړم
چې په کې ستـامینه ونه سوځېږي
مرهم په سوو پـــرهـــرونو غـــواړم
راشه چې خولـه په خوله دې وویښمه
څو به دې کیف له تصویرونو غواړم
چې مې څپې په هرغزل کـې وکړې
لکه شراب دې په مو جونو غـــواړم
هجران مې تهول وجود ذرې ذرې کړ
اوس به یې چېرته په ملکونو غواړم
کاروان که ستا مینه تري وایستـله
زړه یې سوری په خنجرونو غـــواړم

١٣٦٩/٤/٢٢

اهدا: زمورږدکلي يوې بورې مورته چې دوه زلمي مجاهدزامن يې په يوه ورځ شهيدان شول .

دوه څاڅکي اوښکې

له يوزړګي نه راوتلې دوې توتې پرتې دي
جدا له سترګو دوې دسرو اوښکو قطرې پرتې دي
ته واچې دوې دشهيدانو جنازې پرتې دي
په سره کفن کې دځيګرپه وينو سرې پرتې دي
غواړي چې پورته فريادونه عرش ته ورسوي
دخدای(ج) په درکې په سجدو دوې پرښتې پرتې دي
چې درمان په اننګوکې يې ډيوې کړې بلې
دژوند په کلي کې دهيلو هديرې پرتې دي
چپرته نغمه دکوم بلبل به وي خزان ځپلې
چې په ماتم کې يې دسروګلو غنچې پرتې دي
په دې ډيوډبرې لمبې دبېلتا نه شوې تېرې
د پتنګانو په وصال پسې رندې پرتې دي
د خاموشۍ په سلو ژبو ژبغړاندې راته
نورپه کې څه دي دخوارۍ وطن کيسې پرتې دي
د خوشالۍ تکرې تېرې يوورځ دهجران سيلیو
دهيلو ناوې دي بربندې بې پردې پرتې دي
خدای(ج) خبر ولې يې اسمان په زړه ماتم وروي ؟
لکه خپمې دمهاجرمراندې يې پرې پرتې دي
دجهان تروپرې دعمرتندې ماتې کړلې
په خپله تړې دي خوترو ته چينې پرتې دي

۱۳۶۹/۴/۵

دتږو ساغر

دزړه شيشه مې چې په کانړو ستمګرماتوي
ولې له تږونه دميني ډک ساغرماتوي ؟
دنظرماتي سپېلنی شومه دعشق په لمبو
رانه تاويږي دي که يارپه مانظرماتوي
اوس که مهجوره غوتی پته ده دشپږې تکري
مـين بلبل سره به سترپه سحرماتوي
ګوری ء پېزوان يې درمانګرشو د زېښلوزړونو
په ښکلو وړانګوکې زېړی دمازديګرماتوي
راته موسکی شه اونغمه رانه دميني غواړه
چې وچ زړګی مې کله تنده په ګودرماتوي
مينه ژوندی ده مينه نه مري په ديدار مينو
دښمن د مينې که کچکول دقلندرماتوي
غېږکې به راوړي دچندنو جنتي خوشبويي
شينکی طوطي به پنجرې په خپل وزرماتوي
سبا به خامخا کاروان په مات تندي ښکلوي
نن که جانان راته د درپه کانړو سرماتوی

١٣٦٩/٤/١٦تې وړۍ خيسوره

دشپو نهنګ

دګل په قبريې جنډې کړې دبورا وزرې
دزړه فرياد مې کوې عرش ته د دعا وزرې
د يارپه درکې رقيبانودومره وويشتلو
چې له کچکول سره شوې ماتې د ګداوزرې
شوه غلبه دشيطانانو دانسان په مېنه
لږخو خپرې کړه جبرئيله په دنيا وزرې
ږلې داوښکو د ژوند ون په مارغه ووريده
اوس يې پرواز ته نه جوړيږې دخندا وزرې
خدايه رنځوره ښکلې بيا کړې دښکلاوومېره
چې مې راننده نظرته ورکړې درنا وزرې
موږيې په تشو ګوګلوکې زړونه ونښتپځل
ګوندې زموږديوې هم وکړې دبرېښنا وزرې
دشپونهنګ به کله ووژني د نور په نېزو
سحرچې وغځوې سيندکې دطلاوزرې

۱۹/ ۲/ ۱۹۹۱ پيښور

د شهید محبوبا

پرون يې غېږله ګلوډکه وړه ديا رله پـــاره
نن يې ګلونه شوکول خو دمزارله پـــــاره
دورك پتنګ دبيـــالـــيدودانتـــظارله پاره
ژړانده شمع وه دحشر دســهار لـه پـــاره
د پرون ســروه نـــن وهلـــه دخزان سيليو
لکه جنډه په رپيدو وه د يادګارلـــــه پاره
لکه بلبله چې په غـشويې سيـــنه ولـګي
ژبه يې نه شوه جوړولی دچغـارله پـــاره
د ناو يې توب داسره جوړه.ورته داورجوړه وه
ژوندون يې څه وو؟ قيامت وو د ديدار له پاره
ناڅاپه سرې سترګې يې پورته کړی دهسك په لوري
د غم ناره يې کړه د لوی پرورد ګارله پاره
وې ! چې پرون به يو منصوردحق په چيغو سرو
نن سل سرونه اناالحق وايي د دار لـــه پاره
قافله تارپه تارپرته ده ولې نـــه رادرومي ؟
څومره دزړونوګلان توی شول دسالارله پاره
مورد دا غلو ځيګرونـــو ده ډالی راوړې
د آزادی د يوه ښکلي لاله زار لـــه پـــاره
زړه يې دسترګو د اسمان پـــه لاره ووړاوه
د خپل محبوب د خاطراتو د بهار له پاره

١٣٦٩/٢/٢٦

ډیوې

داضطراب په سیلۍ مړې شوې دسکون ډیوې
اوس به په شپوکې بلوو دځیګرخون ډیوې
سرته مې اینبې تصورواورینې لپچې وې خو
په لمبو ویلې کړې د"اصل" دبپلټون ډیوې
ستا په اوږه زغملی نه شم دمرګ یخ لاسونه
خدایۍ(ج) دې توده لره د ښکلو د ژوند ون ډیوې
ته خوډیوه دسوولوویې بدله نه شوې
که د لمبو سالو دې سوروې که زرغون ډیوې
پتنګه هلته دې راتګ تــوهین دمـــینې ګنم
چې سروې اینبی د مرګوټې په ځنګون ډیوې
پرخه ، ګلاب مې هم په زړه لکه چړې لګیږې
چې د دلبرپه اننګو مې کوې یـــون ډیــوې
موږلاروې یو دمحل ډیوې موخه پیژنې
زموږ کاروان به ښکلوې دسباوون ډیوې

۱۹۹۱/۲/۳پیښور

بنکالو

زه خوبونو وړی نه وم
خوب له مانه مرورو
ستا دهجرتپروغشو
په دوو سترګو و ویشتلی
و، له درده تبښتیدلی
دوحشي غزال په شانته
دعدم څنګل کې پروت و

* * * *

ماساقي لیدلی نه و
زما تنده ماته نه وه
ماکنډول تش کړی نه و
ستاد یاد جنتي ګوتو
زما سترګې پټولې
تصوردې راته غېږوه غوړولې
څه پسته ورپښمینه غېږوه
په خمارلړلي خوب ته مې زړه وشو
تصوره ! ستا د" اصل " موسکیتوب ته مې زړه وشو
خدایه داڅه لیونتوب ته مې زړه وشو

زما زړه هم ليونی دی
په سکروتو په اغزوکې
دارام خوبونه غواړي

* * * *

له مستۍ اوله خماره
عجيبه شوم بېکراره
خدايه مانه ليده لاره
په سکروتوکې پښتی ببلی
گډيدمه تلمه تلمه

مستغني وم ستا په ياد کې
له گلونو له گلزاره
يومنصوردې رانه جوړو
دارمې نه کيده له داره
په باربار مې يادولې
زما عشقه زمايارە
په تندې باندې مې ښکل کړل
ستاد درکانې په مينه
دښکلا گل ته مې ورکړه
په هديه کې تانده وينه

* * *

شوګيرې شوې چتې پېغلې
دارمان ژړې اوده وو
هغه ستا دحسن کلی
هازما دمينې کلی
پروت و، داسې غلی ملی
لکه پروت دچاګمنام شهيد مزاروي
پرښتوپرې دشينکي اسمان شين شال وي غورولی
دسپوږمۍ وړانګنه شمع
ورته ځل وهي بليږي
چې له تاويې سپينې اوښکې
لکه ستوري رابهيږي
* * * *
دنسيم يوه پستوکې څپه راشي
د مشکينو څنو بوی يې
په ځولۍ کې وي راوړي
لکه خدای(ج) په قدرتونو
پسرلی وي راتول کړی
پرښتو په يوه غوټۍ کې وي راوړی
لپونوته يې ډالۍ کې وي راوړی
يوه څه خوږه نشه وه
څه خوږې جوتې يې راکړې

څه ښکالومې واوريدله
د ختيز لوري ته ګورم
دتنکي لمر په سالو کې پټه پټه
دخوبونو شهزادګۍ مې
په موسکاموسکا رادرومي
رانږدې شي و دريږي
دتنکي لمر په سالوکې
اودتورو وربښځو لاندې
لکه ګل راته موسکۍ شي
زماسترګې بوراګان شي
دنظروزرې وکړي
له حسينې ګل کعبې نه
طوافونه کوي چورلي
خو ای کاش چې مې په پښو کې
وي پراته لکه مارونه
دطلسم زنځيرونه
دخوبونو شهزادګۍ مې
داسې وتښتي له سترګو
لکه خوب دپرهرڅلو

قوس ١٣٦٩ تنې

زه اوته

زه دارمان له قافلې نه پاتې
د محبت له کلي لرې يوجهان لرې
په يوه اغزنه په يوه سوئ دښته
د درد له ناوې سره
په ويښه شپې تېروم
د مرګي وړې سپې چاپېردي رانه غپې راته
د زغم په لاس کې مې چاره دمجبورۍ نيولې
دژوند له غوښونه مې
سپيوته بو تې نيولې
اود دردناوې ته دسرو وينو خالونه ږدمه
خوته
لکه دتېرو زمانو افسانوي شهزاده
دښاپېريانو درنګينو داستانونواتل
د پولادي مستو دپوانو دلښکرو سالار
زما په خواکې دبرېښنا په نيلي سپورتبربرې
دنيلي شغ لکه دتندرآواز
زمادسرزما دزړه غوږونه ولړزوي
دزړه سالومې داحساس په ګوتو

د درد ، د ناوې په سروغوړوم
پاس دفضا په هاتفي شونډوکې
یودرد وونکی شان سرود خوروي
لکه دیوې زړې غمجنې کونډې
یوکړیدلی سرود
د پیغلتوب په خاطرو باندې لړلی سرود
خوداسرود د تندرونو په آواز کې ورک شي
ته مې په خواکې په یو نوي نیلي سپورتپرپې
اوزه
ستا د نظرله هغه لوړاوډپوړیزه بامه
لاندې راولویدمه
د درد په ناوې سور سالو غوړوم

۱۳۷۰/۳/۲۸پیښور

غزل

ډبريې چې د هجرخزانونه وليدل
ما د ګل په سترګوکې ګلونه وليدل
پاتې وو وزرونه له بورانه په اغزو
مادګل په قبر بير غونه و ليدل
پخې يې چړې کړه چې لړمينه شي موسکی
کوردمينې رنګ دی غوڅ مې زړونه وليدل
خدايه ! يو رښتيا کړه چې شودواړه غبرګ په غبر
د پرمې دجانان په باب خو بو نه وليدل
اوښکې يې په غاړه لکه پېغلې پنډې دي
جوړمې په لېمو کې ګودرونه وليدل
څومره چې دښکلو شنه خالونه ډېريدل
دو مره مې په خپل ځيګرداغونه وليدل
څنې شوکوي په مخ نوکارې لګوي
ماداسې ډيوان داسې لاسونه وليدل

۱۳۶۹/۱۱/۳ پېښور

مهاجر لاسونه

زمورږ مهجور وخولږ وګوره پالي لاسونه
چې تاویه نه شي له صنم نه داخالي لاسونه ؟
حسن مودږپه نښتیځلو زړونو ولمباوه
زمورږپه وینو سره ترلپچودسپرلي لاسونه
په دې ګناه چې دسپورږمی نورته یې لپې نیوې
غوځ شول په بیخ کې دسپیدارتنکي خیالي لا سونه
زما دمینې کلی رنګ په دیوالګویې پراته
له تورپیکې درالویدلي کشمالي لاسونه
پروت داکبر پا چادرباركې دشهی پورنی
د زنځیرونوماران خوري دتوردلي لاسونه
د ګل په قبریې جنډې دیادګارونو رپې
دتوربورا څیري وزرونه دمالي لاسونه
دجهنم دشپواورږده تنده موروګالله
سبا اورږده کړه دلمرجام ته ګلالي لاسونه

شنه شالونه

له پپغلو سرور نه لمبوکې سوې شنه شالونه

سپرلیه راشه چې له غیبه شي راشنه شالونه

دکشمالو شمال دخنو شپوکې شپه ونه کړه

له شوم سحرنه مروردي مپلمانه شالونه

مسیحا راشه په تار تار کې یې ساوغزوه

دمرګ په بت ساړه پراته دژوندانه شالونه

په نا اشنا وطن کې دپر په زړه را وورې اشنا

سرته مې اینبنی دی ستا خیال په ځنګا نه شالونه

شوګیرځپلې سترګې څه ملال خوبونه ګوري ؟

پراته په سریې غشي غشي که بانه شالونه؟

څښتنه څوبه چنګپزي پنجې کوڅې شوکوي ؟

مغل اسونه پښوکې مړي پښتانه شالونه

په شال مینوزړونه وشیندل په شال په شمله

جندې جندې رپې په غره په دامانه شالونه

د زړه جرس دشین خالوکاروان ته وشرنګوه

چې د مایه له غاړو تاوکړي اوښبانه شالونه

۱۹۹۱/۹/۲۳دتنیو غرونه

دسترګو ګودرونه

ښکلو مې که زړه کې خنجرونه وکـــرل
ما په هر پرهرکې بهارونه وکـــرل

داداوښکو تخم چې ډيوې راشـــني کوي
چاپه تورمابنام کې ســهـــارونه وکـــرل؟

نن چې دسپورمۍ څولۍ کې سنوري ټولوم
ګوري به سبا چې مې لمرونه وکرل

پام ! په منصوري رنګين ګناه يمه مـيـن
رامې شي خندا چې تادارونه وکـــرل

وابه وري درخومستې نغمې دمحـبت
بيا دادم ګوتو شا تارونه وکرل

سپينې مرغه کې به تورو غرونوته راځې
تورو که څومينه کې تـــورونه وکـــرل

ناوې دموسکا ته به شالونه کړي راشـــنه
خيرکه مې دبڼه ګرېوان تارونه وکـــرل

ماتې به شي تندې دمودوپه يـــــونظر
سترګو که په زړونـــــو ګودرونه وکـــرل

جورمې کړود. درد سترې کاروان ته دمه ځای
ماد ژوند په شاړه کې شعرونه وکـــــرل

پېښور ٤/ اکتوبر/ ۱۹۹۱

دسندروجامې

تالاترغه شوه ستاموسکا ستا دخبروجامې

اوښکې سنګې مې شوې جانانه دسندرو جامې

دجادوغشې شوکوې دشنو کوتروچامـــــې

دپوانو يوورې ساپېرونه دوزروجـــــامـې

څه شوسپرلی چې په کې تک وهو دمينې کيږدی؟

څوبه شکوې تېره اغزې له څوندوروجـــامې

څنډوهه څنې چې غرڅې غوندې خوب ترې ووهې

وږموته واغونده دمشکو دعنبروجـــــامې

هغه مـين مازديګری مې په زړګې وريـــږې

طلا يې لمربه چې مينځلې په ګودرو جـامې

مينه نورځه ده دژوندون دمرغلرې يـو آب

بدرنګه ولې ماتوې دمرغلرو جامې

چې په لمن اوپه ګرېوان کې سرحدونه رنګ شول

شي به جنډې دلېونو او ببرسروجامې

دسهرابې نظرکاروان مې لېونی شو درځـــې

که ستا دسترګو رسنم واغوستې دزغروجامې

پېښور ۱۳۷۰/۶/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنهاکي

ګوتې تـــناکې په زړه هم تـــناکـــې
څه چې لـــــیکم شي په قلم تنـــاکې
وږمې رندې وې خدای زده چـپرته لاړې؟
دګل په سترګو د شبنم تنهاکې
دلېمو فرش مې ورته وغوړو ی ء
هسې نه پښې شي دصنم تناکې
مانه سپېرې صحرا سپرلي وغوښـــتل
اوس په اغزوکې لوبوم تنـــاکې
دردمې دعشق رباب کې څـــالې وکړې
په زیر تناکې اوپه بم تناکې

۱۳۷۰/٤/۱۲ تنې دنریزې کلی

خمار

دگرپوانه په تاردانه دانه شـــــو
ساقي راځه خماردانـه دانه شـــو
ستا درنځوروم‌راوو سترګو په نوم
زمادزړه انارداناـــه دانـــــه شـو
راځه په بام ټول کړو دستورو ګوهر
دهسك دپېـغلي هاردانه دانه شـو
نظرمي ستادا ننګو په څـوکـو
لمرو په سپين سهاردانه دانـــه شو
له سپېلنيو درمـنډونه ډك شـول
دمحبت انګاردانـــه دانـــه شـو
زاهد په سلوتسپـــوورويشتـــمه
بنه شوچي بيايي واردانه دانه شـو
پښې يېلې راغې د چړوپه څـوکو
ستا په درشل بهاردانـه دانـه شـــو
تړي کاروان ته لپې جـام جـوړوه
که دمنګو کتار دانه دانـــه شـو

پېښور ۱۳۷۰/۳/٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

دختن تلوسه

لامې لېمی په اوښکو مستې نــه دي

دسلګو غوټې می پرانستې نــه دي

په تا آیت دموسکا کــله راځـــــي ؟

ماستادخولې سیپارې لوستې نه دي

دزړګي تاك يې راتـــه ونښتيـــځه

چاوې نغمې مې می پرستـې نه دي ؟

زما زلمي نظرته نـــاوې نـــه شوې

ستړګو دې سرې جامې اغوستې نه دي

زړګيه خال شه په تخت وکـړه يــرغل

د وروزو توړې يې پيوستې نــه دي

دښته دخيال مې تلوسه دختـــــن

ورکې هوسی لاچاراوستـــې نه دي

حمل / ۱۳۷۱/ پېښور خيبرپلازا

شهيدي پرښتي

دسمنګان شهزادګۍ کوندې دستم د لاسه
هريو سهراب موسورپه وينو درستم دلاسه
رابعې وينې کړې دبلخ په حمامونو غزل
بکتاشه راشه ستا د مينې د پرتم دلاسه
دشيطان غشوکړې شهيدې پاکيزه پرښتې
ګلونو څورندې جندې کړې دماتم دلاسه
دجهنم دروازې خلاصې دي سپرغۍ وريږي
دغوټۍ ژوند په اغزوپربووت دشبنم دلاسه
سهاره راشه دروحونو پتنګان موسول
ډيوې دزړ ونو موبليږي دتورتم دلاسه
دخيال مرمرراباندې وتراشل دميني هنر
دهجران کرښې ويرانوو دخپل صنم دلاسه
په هرپرهرکې مود درد مرغانو ځالې وکړې
چې موښخې په پرهرد بې مرهم د لاسه
درخواووه پوړني لرې کړه له شکلې مخه
پرپرده چې مستې نغمې واورو د ادم دلاسه

حمل / ۱۳۷۱ پېښور، خيبرپلازا

دري څانګې وينه

منم چې لمربه نن سبا په هوسناکـو ګوتو
دوچوخـانګو په ســـرورګـوکې
د پېغـلتوب په خوب اوده تلوسه وتخـنوي
دبادامي سترګو دښکلي انتظار په څـــبربه
پاسته پاسته سپېڅلي سپين ګلونه وخندوي
اومستانه سپرلی بـه راشـــي لـــکه
دشهنشاه دربـارته شنه چپن په غاړه قاضي
درنګينی تسپې په لاس کې له خپل ځانه راضي
اودوړمو په لاس به سپرې دګلپانو دفـــتر
په هره پاڼه به احکام ګوري دحـــال اوماضي
چې کـله ووينـــي په هـره پـــانه
دبلبلانـو پـــه نغمـو لړلې
دري ، دري کنـډوکي څخـپدلـي وينه
ترخه خنـدا به وکـړي وبـــه وايي
څومره زلميـو بلبلانـــو له نکاح ســره سم
دنيـم بسملو ترانو پـــه ژبـــه
دپولادي غـشو پـه سرولاسـونـو
دژوند ګلپېغلوناوکيو ته طلاق ورکړی

۱۹۹۲/۲/۱۸ خيبرپلازا پېښور

په جانان مين

پرپردی ء چې په دارمې کړي دځان مين
وايمه چې يمه په جانان مين
وينې داحساس مې بشکلی نه غواړي
مورشوپه غميو د پېزوان مين
ستن مې کړقلم تاريې غزل غزل
شوم دلبونيو په کربوان مين
خدايه نه راځي عزيز دمصرشو
دابه يوسف نه وي په کنعان مين
هسې نه چې تق زاره يې وچوي
لږخوشه وصاله په هجران مين
مه ما توه زړونه خولعلو نه دي
څله ژړ و يې په بدخشان مين
بس دی بلبلان په غشو مه ولی ء
پرپردی ء په لاله په ارغوان مين
وايم چې خزان دې هډو نه ليدای
دومره دې يم ګله په ارمان مين
زړه دې رانه يووړاو جرس دې کړ
بشکليه اوس به خودشې په کاروان مين

١٣٦٩/تنې دچورکونډې دځنګل لمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاخه زګېروي

دغشو باد په ديوالونو ببـري وشـــوکـول
ښکلويې څومره په ماتم کې پيکې وشوکول
ددیدارتږی مجنون څه وکړي په کومه لارشي؟؟
چا، دليلا له قافلې نه ګونګري وشوکـــول
راځئ، خولې دسليمان په سرکړو ناوې يې کړو
دپو، دارم له ښاپيرې نه څوندې وشوکـــول
دزړه توتې مې ستا ديدن ته له ښو کوزې کړې
ما، له توتې توتې کچکول نه پتري وشوکـول
حسنه نظردوړو سترګو په تا هېڅ نه شي کړای
تاته مې عشق يوه بکوا سپېلني وشوکـــول
دخوښولودکاروان ښېرې مې واخيستـــــلې
له ځيګر خون مې پاخه شوې زګېروي وشوکول

۱۳۷۰/۳/۱۱ پېښور

سندوکی

هلته یو سیندوکي غوږولي ده ځولی

داسې ښا یستوکی لکه مینه دسپورمی
کړي نری څپې یې له یو بل سره مستی
لېچې سره تاوکړي لکه پېغلې جینکی
* * *
شوریې دومره خوږ لکه نغمې وي دجنت
څاڅي یې له څاڅکي څاڅکي مینه محبت
وګورئ انځورته یې هنداره شو فطرت
ناڅي په کې ناڅي د ښکلارو قیامت
ایښې پرښتو ورته په بم په زیرلیندی
داسې ښایستوکي لکه مینه دسپورمی
* * *
ښکلی څوکیدار یې دی په غاړه هریوګل
هره پلوشه یې دیوسف دخوبو ځل
پنډې پرې مچې دي لکه تورې دغزل
یا یوتخیل چې څوځو ځله شي صیقل
پالې پالې ورشې ورته ودرېږي په ژی
کړي نری څپې یې له یویل سره مستی
* * *

اچـوي پـــه غـــاړه يې بلبل دنغمـــو تال
کيف يې په نغمـــو کې د داؤد او دبلال
خوري خوږې تالې کله په سر کله بې تاله
کلـه دجمـــــال په غېږکـــې کله دجلال
مسته شي اووه شالـــونه واچوي غـوتې
لېچې سره تاوکـــړي لکه پېغلې جينکې
دابښکلی سيندوکی دادخدای دفـن شهکـار
دې کـــې خدای ځای کړی دنغمو يومست ابشار
ناست يې دی په غاړه يو شاعر مست اوخمار
دی تـــــراني مينځې دربـــاب اودستار
پنې لـــه دېـوانو ورتـــه راشي ښاپيرې
لـوڅې شي د «پړ» دجـــامو وشلوي تنې
سرې سپينې مهينې لکـــه وي دنوربېرې
هلتـــه يو سيندوکي غـــورولې ده ځولې
داسې ښايستوکی لکـــه مينه دسپورمې
کړې نـــرې څپې يې له يو بل سره مستې
لېچې ســـره تـــاوکړې لکه پېغلې جينکې

پېښور خيبر پلازا ۱۳۷۱/۱/۳

د ژوند پردېس او د اسمان بنابېره

خدایه زما د زړه په وچه دښته
تاخوږباران دعشق راو وراوه
دا وچه دښته شوه په ګلوپټه
مادډي دښتې دګلونو منځ کې
د ژوند پردېس ته له غونچو نه ګړه جونګړه جوړه
په دې ګلونو کې به رغښتې تل دخیال غږ ځنې
ورته راتلې لکه دمستو غزلونو توري
دښکلو ښکلو زمزمو سره دشاتو مچې
ته به خبروې خدایه !
ستا له فردوس نه به راتله یوه ښایسته ښاپېرۍ
چې لمبېدلې به تازه وه دکوثر په میو
په سپینه غاړه یې امبل دجنتي ځمیو
دنور پنو ګې ګر ځیده په نازدګلو منځ کې
دشیطانانو له تهمت نه باغي
دپېغلتوب نشوکې دوبه دوبه
دژوند پردېس ته یې مچکې ورکړې

په توده غېږه کې يې کلك ونيوه
دژوند پردېس يې طلايي څنو کې
کتارکتار ګلونه ولګول
دواړو يو بل سره دميني مزي وغځول
خوداتنکی مينه پخه لانه وه
چې شيطاني خزان دللمې ګلان ورېژول
د ژوند پردېس مې دګلونو په ځای
اوس داغزيو په کوډل کې اوسي
اوهره شپه په ښاپيرۍ پسې اسمان ته خېږي
دشنه اسمان په چړپيدلي سيندکې
دسپينو ستورود سپين کانو په سر
په يبلو پښو ګرځي د ښکلې ښاپيرۍ په لټون
له پاسه غږ راځي فرياد راځي او چيغې راځي
خدايه ازاده کړې د ژوند ددې پردېس معشوقه
د شپودېوان يې چې شهيده نه کړي
چې يوه ځولۍ دځراغونو راوړي
چې بيا ښايست دسهارونو راوړي

پېښور ۱۹۹۱/۱۲/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړونوژبه

زه لاکوچنی وم چې دسپینې سپورمۍ
په سترګکو پوهېدم
دنیمو شپو دبلبلانو په نغمو پوهیدم
زه د مچیو د سرود په زیروبم پوهیږم
مادمینو زړونو ژبه زده ده
داسې پسته مسته ده
لکه د شاتو دمچو ما لکه
زه دغزل په ګوتو
تنې دپرخې خلاصومه دغوټې دکمیس
زه له ګلپانو سره رازلرمه
دخوشبو یې په ژبه ښه پوهیږم
زه او وړمه چې چپرته لارکې سره مخ په مخ شو
څه غلي غلي سره وموسیږو
دمایه اوښ دقهوه یې اوسور بخو نو سترګو

دغتو اوښکو په اینو کې وینم
دلوټ کاروان دورک څاروان دتصویر ونو جهان
زه د تاګورګیتا نجلي سره سندري وایم

دسپینو اوښکو په سپېځلي ژبه
هرې سندرې ته په نذرکې زړګی ورکوم
زه د مجنون خړې خپمې ته زړه کې ځای ورکوم
څیرې لمن یې لکه پانې د قرآن ښکلوم
په هریو تاریې دلیلا دعشق داستان ښکلوم
خوته !

دزرین تخت د پاسه ناسته اې دبخت شهزاده
ولې د زړونو په روانه ژبه نه پوهیږې ؟

پېښور خیبر پلازا ۸/ ۱/ ۱۹۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاغي بلبل

ته مې په غشو وله
خوزه په شنو پانوکې نه پتیږم
زه په بربنډو غورګو
دنغمو ټال زنګوم
ته مې په غشو وله
خوزه د ، درد په خوږو نه مړیږم
زه په سندروکې جمال زنګوم
زه یو مین یو لېونی اویو سرمسته بلبل
د ډاروونکې چو پتیا
دغورپردې په یاغي چیغو شلوم
خدای مې شیندلي دي په زړه کې دنغمو تخمونه
ته مې په غشوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دنغمو د پاخه فصل گډوم لوونه
د طلايي هلال په لور ، د ځليدو نکو ستورو
دښکلي سيوري لاندې
گډې ، گډې يې ږدم دگل په درمند ونو باندې
ته مې په غشو وله
خوزه په سوو لوغړنو وينو
پېغلو غوټو ته ورکومه غسل
اودتنکي پېغلتوب
مبارکي ورکوم

پېښور ۱۹۹۱/۱۱/۱۳

دغزل تړی

زه دمابنام په گوټ کې غلی ناست يم
يوه غزل ته داسې تړی يمه
لکه داوړي روژتي او لالهانده بزگر
چې دخوارۍ او بلالي اذان يو تاندانتظار
په وچ زړگي تېروي
خيال يې د زړه په سوځيدلې ځمکه
دتورو غرو سپينې چينې بهوي
مانن سهار د لمر له سرې مشوانۍ
دتخيل قلم کې واچول زرين رنگونه
چې پرې رنگينه مستانه غزله
پاس په اسمان کې د سپوږمۍ په پانې وليکمه
اې له رنگينو غزلونو بنکليه !
اې دالهام الهې !
ستادورېښمينو پښو پسته بنکالو به کله راځې ؟
له ما شعريت لکه مارغه الوتی
راشه چې پاڅې مې د زړه له ستونې
د بدرنگۍ بې هنرۍ خپسې
زه د رنگينو غزلونو تړی
ستا دموسکا دآيتونو تړی
تا ته بيګا دغزلونو مرلۍ
وايه ! زما په باب کې هېڅ ونه وې ؟

١٣٧١ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړی کاروان

خدایه ! د ګل کډې یې قدم قدم کې واړوه
ستړی شو کاروان دښاپیروارم کې واړوه

خاخکي خاخکي توی شو خال دغونډو غونډو زنوشو
نور خو دانا سوردمحبت مرهم کې واړوه

ښکلوته مې واوروه چې شمعو غوندې و یلې شي
زه دسوز غزل یم ما په زیروبم کې واړوه

لږمې داغرییه مینه کانړو زړو ته ورولە
یاد مې لکه اوښکې دلیمو په چم کې واړوه

زلفې تورتمونه غرونه کنډوونه شول
زه دسبا تږی ما په پیچ وخم کې واړوه

باغ چې دشیرینې د الفت په اوبو ولامبې
غر د بیلتانه په فرهادي اړم کې واړوه

مانه غلو اغزیو دتیا کو پټې پټې کړې
اوس می لوټ کاروان د پسرلو حرم کې واړوه

۱۳۷۰ پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

اننگي يې دومره سره په څه سبب دي ؟
عجيبه ده جنتونه په غضب دي
بنکلي مخ ته خامخا سترګې ور اوړي
بوراګان خو دګلونو په مذهب دي
دريا زاهدان سپې د دوزخونو
شاعران خو شاګردان دبنکلي رب دي
وې يې سترګې مې درياب دی درومه وړې دې
ماوې نه څم عادتونه مې د کب دي
ستا بانه مې د زړه جيب کې وهي ګوتې
لکه شوخ ماشومان څومره بې ادب دي

پېښور، سرطان ۱۳۷۱

غزل

په زړه مې ولې راوربړې څه باران خـــونه يې
هسې مې درد راو ينبوې ګرانه درمان خونه يې

دمخ په پاڼه به دې څه خورې غزله لـــــيك وي
سپينه کتابه يادوم دې دومره ګران خونـــــه يې

دخيال هدهد دې څومره ګڼ ګڼ پيغامونه راوړي
دامې خطا وه چې ويل مې سليمان خونه يې

مابه بې وخته لپونی کړې په اغزو به ګرځم
غېږبه رانه کړې بنکليه باغه بيابان خونه يې

دژوند دوچ ساحل په مخ مې لمدې شوندې نه ږدې
شنه سمندره زه دې څه کړمه توپان خونه يې

دنور په غشو مې له هسك نه په لېمۍ ولې
نه راځې ستوری داسمان شوې مهربان خونه يې

بنکليه سالار مې که دعشق دمنزلونونه کړې
بيا راته وايه چې د رواغ وايې کاروان خـونه يې

پېښور، عقرب ۱۳۷۰

گوره چې هېردې نه شم

ته به مانه پېژني
خوزما روح درسره مينه کوي
زما د لوړ تخيل نوح درسره مينه کوي
چې دتيارو توپان په ځمکه راشي
دهسك درياب ته دې راوخپروي
ماسره يو ځای دې دستورو په ګوهرو پسې
دسپورمی سپينه نوراني ببړی کې وګرځوي
ستا په پاسته ورغوي وليکم دميني غزل
«ګوره چې هېردې نه شم»
دايې وروسته مسره وي
ته د ماشومي غوندی وتخنيږې
اوله خندانه شنه شې
ستا له خندا سره ببړی ساحل ته ورسيږي
او دتيارو توپان تالا والا شي
بيامې چې څوك درنه پوښتنه کوي
ته ورته وايې زه يې نه پېژنم
لامې ليدلی نه دی .

پېښور، خيبر پلازا ۹ / ۱ / ۱۹۹۲

بالې

د در دمطرب چې په تارو کړه لیندی ونیسي
زما دمیني دغزل توري سلګی ونیسي
موسکا راتله دغوټی شوندوته خو وتښتیده
لکه خپسه دتنکی پیغلې مری ونیسي
د دیدنونو دا قدغن اوتصور د جانان
ملنګې سترګې مې دخیال ټوکی ونیسي
ملوك او وه جوړې د اوسپنې څپلی کړې زړې
خدایه چې کله به په غېږه کې بدری ونیسي ؟
سپرلی به هاله وي چې راشي یو کاروان ګلونه
تا ته ډالی شي اوستا ول په ول کوڅی ونیسي

پېښور، جور ۵/ ۵/ ۱۹۹۱

غزل

کتاب مونه زده خو دمینې آیتونه وایو
داوښکو توري لولو څیرې ګرېوانونه وایو

مور بلبلان دګل د زېرو زېرو پاڼوله مخ
راڅخیدلي دسرو ،وینو غزلونه وایو

زمور تندي په کاڼو وله چې کوڅه دې رنګ شي
خو دا ګیدای نه شي چې کاڼوته به زړونه وایو

چې دترخې خندا په تېغ شي غوڅې وینې وینې
داسې سروشونډوته مجبور یو پرهرونه وایو

چاوې په څنو مینانوته یې دارجوړکړی
مور دارته څنې وایو څنوته دارونه وایو

پالي زمور ترانور غوي څه لیدلي ؟
مور لنډ عمر خاوندان اوږده راګونه وایو

دما زدیګر په زېره وینه یې داستان لیکلی
دمنګوتو په توتو بیا دچا یادونه وایو ؟

دعشق په باب کې شوې ښکلاوې د تاووس ښکې
د ژوند کتاب کې څه سندرې څه ویرونه وایو

دخوب کاروان مو شوکوچی کډې یې وترلې
شپه ده د سترګو سره خمار ته څراغونه وایو

پېښور ۱/ ۱۹۹۱/۱۱

یاره چې ګیله ونه کړې

بنکلوکیه یاره چې ګیله ونه کړې
په سپوږمۍ تنهاه مروري کړښې مه غځوه
دخپل زړګوټي په تنکۍ غوټۍ دې
دخپګانونو اوشکونو خزان مه وروه
هو دامنم چې موده ډیره وشوه
وختونه ډیر واوښتل
چې په خوږو خوږو نغمو کې مې ستایلی نه یې
بنکلو کیه یاره چې ګیله ونه کړې
تا خو لیدلی و
هغه زما دمینې ډک زړګی
چې ستاد حسن مرغه کې وه په کې ځاله جوړه
چې هر وزریې وخوږو کی مضراب
هره پنجه یې وه دمینې زخمه
چې په رګ رګ یې شرنګولې راته
زما دمینې ستا دحسن نغمې
بنکلو کیه یاره چې ګیله ونه کړې
هغه زړګی په غشو ولګیده
دصیادانو په تیرو او پولاد ینو غشو
په کې زخمی شوی خندوونکی او خوږې ترانې

لکه غزال غوندې تری تم شو اوتښتېدو
په غرخنو سترګو مین غزل
اوس چې له دې زړګي نه وینې څاڅي
په هریو څاڅکي کې یې پټه وې د وینو نغمه
له اسویلیو او سلګیوسره
د ژوبلو زړونو دنیا ګې ته غریو نیولې د رومي
ښکلو کیه یاره چې ګیله ونه کړې
ستا په کټ کټ خندا مې هیره نه ده
خوکه باوردې راځې
اوس مې دزړه په غوڅو غوڅو ټوټو
ستا دبې باکه سندریزو خندا ګانو په ځای
دچاپې شماره یتیمانو اوښکې
دانې دانې راځې اوشیندې په کې
اه ..... د غمجنو سرود ونو تخم
ښکلو کیه یاره چې ګیله ونه کړې
صبرکوه خدای دصابرومل دی
خوب مې لیدلی دی ربښتیا یه شي
دا په جنت کې دباروتو دوزخ
قسم په خدای تالاوالا به شي
موسکا به راشي دینیم په شوندو
په ناسور زخم نه دسولې پټې ولګیږي
زما ارم نه به دیوان دجنګو

ترکوه قافه ځي په منډو منډو
بيا به دې سنګليه په شعرونو لمانځم
دسورکي لرلن به نسيم دشملو په ګوتو
سترا سره پيژوان ته به حيران کړمه زيږي مازديګر
بيا به راواخلمه کچکول د غزل
سترا په دوشل به درځم مست ليونی
ته به په سترګو کې مسکی شی راته
هرمازديګر به راکوې د ديدنونو خيرات
سنګلوکيه بيا خو ، به ګيله نه کوې
ځکه راغلی به وي مست پسرلی
هريوه ګل به وي په سردکه پياله نيولې
آن د کوثر دمبو
ته به په سروشوندو موسکی موسکی شې
تولې پيالې به شې له کيفه او له رنګه ډکې
يوخورشميم به په کې ولمبږي
بيابه يې زه اوته په سرواړوو
سنګلوکيه بيا خو ، به ګيله نه کوې
زه به ګل پانو نه د پرځې دانې
دمست قلم په ژبه وځيبنمه
سنګلوکيه ټاته به اهدا ، کړمه په مينه مينه
دمسنو مستو اورنګينو غزلونو کاروان
سنګلوکيه بياخو به ګيله نه کوې ؟

تنې دنږې کلی ۲/ ۱۱/ ۱۳۶۷

ته .....

ته یو شهکار وې شهکار

نته یو کتاب وې دښکلا د غزلونو کتاب

ته یو تخلیق وې دفطرت دیوه بې مثله شاعر
ته یې وې کښلی په باریکو گوتو
د تبسم په قلم
ته یو رباب وې یو سرمسته رباب
د ژوند گډا ته شرنگیدلی رباب
لکه ماشوم دې ووکټ کټ خندلي
دعشق په گوتو تخنیدلی رباب
ته یورباب وې یوسرمسته رباب
ته مستانه ساقي وې
ستا په شرابو کې په جوش وو دالفت رنگونه
تا دتاك وینه ننبتېځله دصفا په گوتو
په کې یوه ذره کینه هم نه وه
ته وې مونس دتبروزړونو او دوچو شوندو
ته یو سخي ساقي وې
اوستا شراب دشومتیا خم کې راگیرشوي نه وو
ستا میخانې لکه چینې بهیدې
چې د زاهد ورته توبې ماتیدې
اې ښایسته شهکاره

اې دغزلو يو رنګين کتابه
هره لحظه دې لولم
هرشومه دم دې هرغزل په ترنم ترنم
خونه پوهېږم نن دې هره مسره
لکه يتيم وي چا وهلی په ځيږو څپږو
راته وړې وړې سلګۍ وهي
ګيله کوي خو دمسرومرۍ ته غوټه ورشي
زما بنو باندې دخوب دپستو ګوتو په ځای
يوځو سپرغۍ وي چې خوبونه لوټي
بانه په پام پام رپوم چې سپرغۍ ونه لويږي
اوته پرې ونه سوځې
زماد نن دور غمجن ربابه
ولې غمجن ژاړې
ته چې په بم ژاړې په زير ژاړې
دکوم شهيد سرود په وير ژاړې؟
ستا د نغمو دکفن
دهريوتارپه په غيږ کې
کومه د ژوند درخو شهيد پرته ؟
پرون چې شين وې له خندانه ولې نن ژاړې ؟
ته ای ساقي د تږو زړونو ساقي
دلېونو دمحفلونو ساقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايه خبريې که نه ؟

ستا لپوني خواره واړه دي دخمار په غږونو

ځې د تناکو په پنوکې د انګار په غږونو

يو څو هوښيارو دې جامونه مات کړل

چادې کنډول چادې خمونه مات کړل

اوچا چې ته وې غزيدلې لکه مينه په کې

هغه له مينې نه ډک زړونه مات کړل

دتاك له وينې سره ګډه شوه د زړونو وينه

ستا دمـينو وينه

ستا د ، رندانو وينه

کله به ستا له خمارو اوله ملالو سترګو

داوښکو مهر دخندا په ګوتو ونړېږي

چې بيا دامست خمارځپلې رندان

په سرجامونه د انګور واړوي

توبې توبې په سره تنور واړوي

پېښور ۱۹۹۱/۲/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنبتيدلي اخترونه

پټ مې په زړګي کې يوڅو سوي غزلونه دي
وادې يې وري چاسره چې کاڼي نه دي زړونه دي

ګوره دښو په ستنوڅه ډېرې جنډې رڼې
ړوند خونه يې څومره مې د هيلو مزارونه دي

تنده ما توي خوږه ننشه دمينې هم لري
اړوه په سريې که ترخه زما جامونه دي

ستا دطلسمونو پسرلی مې پيژندلی دی
څوك به داسې ووايي چې اورنه دی ګلونه دي

څه تاندې غوټی څومره تنکي ګلان يې ورېښل
دلته هم لوونه دي اوهلته هم لوونه دي

ستا دمغ داسپين سبا به کله په کې وينم ؟
څومره دې اوږده دتورو زلفو مابنامونه دي

خال که په تندي لګوې راشه دادې ورځې دي
تن مې په رګوکې د تودې وينې موجونه دي

کله به قدغن ماتيږي خدايه ليونی شومه
سترګې مې ديدن ته لاداوس نه کچکولونه دي

هره شپه خوبونو کې ليلا د آزادۍ راځي

ويښ چې شم هغه خړې خبمې دي هجرتونه دي

دلته دارمان په‌حسين غشي د يزيد اوري

ژوند مې عاشورا شو تبښتيدلي اخترونه دي

خدايه يو دعشق ابن اذر ورته راوليږه

جوړ د زړه کعبه کې د بتانو حکومتونه دي

مايې جنازې دنيم بسملو نغمو وړې دي

داخود کاروان يوڅو ژوندي غوندې شعرونه دي

ثور ١٣٦٩

دانتظار په کلي

اوښکو مې مهرلګولی ددیدار په کلي
خدایه تېربرم بې دیدنه د خپل یارپه کلي
ترې زړګی مې شو کباب کباب دمینې په اور
اوښکې مې وسوې اوپخیږي مې سرې وینې په اور
کاشکې لږمون راته څوک وسپځې دپینې په اور
نه شته ساقي ؟ چې لږمې راشي دخمار په کلی
د یار په یاد مې ژوندی سترګې له ځمارنه پاتې
لکه په ګل کې مړ بورا وي له بهار نه پاتې
د ژوند رباب کې پټ سرود یم له شا تارنه پاتې
همد مه کله به راځې د انتظار په کلي
دهجر شپې مو په تیندك دي ډیوه ګی نه لرو
په اغزو زړونه ور پیړو باغ کې غوتې نه لرو
ناسور زخمونه ګرځو و مرهم پټې نه لرو
ځې چې ورځو په لېونو د پرستا ر په کلي
توري لیلا څنې دې څنډوهه ادا دې نه زده ؟
په دې اوږ دوشپوکې دښکلی مخ سبا دې نه زده ؟
مجنون به وګټې دخدای په در دعا دې نه زده ؟
راځه کېږدی دعشق خوره کړو د بهار په کلي
سپرلی پټیږي دسرو وینو دالوان په کفن

هسې نه تاندې غوتې تا وشې دخزان په کفن
ویښ یم که خوب وینم مخ پټ دخوږ جانان په کفن

مسیحا کله به را درومې دبیمار په کلي ؟
په شنه اسمان یې چې بوډی دمینې تال زنګوي
ذره ذره پکې دنور او دجمال زنګوي
سپینې کوترې یې په غږکې پروبال زنګوي
موږه مهجورورځو د داسې یو د لدار په کلي
موږ دتنهاکو په پنو کې په اغزیو راغلو
دمرګي غږته په ګډا او په مستیوراغلو
خندا موحق ده په کړلیچ کې دسلګیو راغلو
کاروان ته لار ورکړئ چې خورشې دسهار په کلي
دلمر په کلي د خوږ منو د کرار په کلي

۳۰/نومبر/ ۱۹۹۰ ټنې

اهداء: شهید مجروح ته

جلوه زار

یو زړګی وي په تترکي ، خوچې وخاندي بهـــارشي

عشق يې وداغي مجروح شي ، دلاله غوندې داغدارشي
دخزان ترخې سيلۍ کې ، قافلې دمشـکو کـوچ کړي
خوشبويي يې لاسپواشي ، چې يې پانې تارپه تـارشي
هره اوښکه يې تابلـوشي ، دصـنم دګرمې ميـنې
هجران هسې شان رنګين کړي ، چې وصـال به ترپـنه زارشـي
مرګ په برګوورته ګوري ، خو جذبې خاندي حـق وايي
عشق يې نه پرېږدي قرارتـه ، که منصورغـوندې په دارشـي
چې په مينه کې قربـان شي ، هغـه زړه د زړو سلـطان شي
دتاريخ دناوې خال شي ، رنګ دوينويې يـادګارشـي
چې فـرياد داولسـونو ، دبلبل غـوندې نغـمه کړي
د ژوند سازيې نيم بسمل شي ، دصياد په غشـوښکـارشي
د زړګي يوښکلی لعل وي ، غېږيې ډکه وي لـه نورنه
دبې قدرو په لاس ورشي ، په ايروکې ورګـوزارشي
خو دانورپه ايرونه مري ، دا بـه زړو نوکې بلـېږي
که يوځای په ايروپټ شي ، په سل ځايه جلـوه زارشي
پسرليه ! توکوه يې ، له زخمونو نه ګلـونه
چې آرام روح د «مجروح» شي ، چې فردوس ورته مزارشي
چې نغمې يې په ژړا دي ، ګرم يې مه بولئ عالمه !
څوک به ولې نه ژړېږي ، چې «کاروان» يې بې سالارشي

تنې ۱۳۶۶/۱۱/۲۳

ای د سپېدو پر ښتې!

ای دسپېدو پر ښتی
له خو په وغځېږه
په کرشمو کرشمو وغځېږه
دشپوڅادرله ګلابي بدن نه وغورځوه
دلمرزريني جامې واغونده ادا وکړه
عمرژړلوته په سرو شونډو خندا وکړه
اودسپوږمی له میخانې نه راوړه
دمينې تږوته د نورجامونه
پرپرده خواره چې شبې په وچوشونډو
لکه دستورو څاڅکي څاڅکي شراب
پرپرده دمينې لېونی دې هم شي مست اوخراب
ای دسپېدو پر ښتې :
اوس که پېغلوته يې خوپېغله به شې
دښکلا رازيې يوه غوټه يې چې وسپرپړې
که د چړو په څوکو لاره وي هم
دعشق مجنون به ستا درشل ته درځي
په تورپټکي کې به تومبې د پلوشو ګلونه
دتورو شپو په غېږکې واخله نوراني ګامونه
دمهاجرو د خپمو غېږې ته

راوله راوله دنورقافلې

اودا دنور قافلې

ديوسفي کميس په عطرو باندې ولمبوه

دلمردسترګې هار پرسپينه غاړه وځړوه

عزيزدمصرته ورياد کړه د کنعان يادونه

اوپه مهجور«پسرلي» و وروه

دخوږوصال د جنتونو ګلان

داستقلال دجنتونو ګلان

ای دسپيدو پر ښتې

له خو به وغځېږه

په کرشمو کرشمو وغځېږه

۱۴۶۹

دپرښتې خوب

يو چمن وشين چمن و.
داسې ښکلی
لکه لرې دشيطان له وسوسونه
خوب دښکلوپرښتو
دګلونو وه ښکا لو
دمرغانو دنغمو
دوړمود قافلو
يوله بله وو تېکر
لکه څونښه مستان
خدای راکوزکړد فردوس له ښکلې غېږې
يو مـين شينکی سحر
اوس يې ورو ورو لمبوي
په چينه دتنکې لمر
لکه ولامبې مريمه
څويدرنګې زمانې ته
کړي له غيبه را پيدا
يو مشال يو مسيحا
د فطرت له رنګينيو
دښکلا وو په لمن کې
يو ه پېغله په ترپکو
لکه مسته غرڅنی وه
دمړوند ښګړې يې مات وو

مستانه وه ليونۍ وه
د سپرلي په شنه سحر باندې مښينه
په چمن باندی مښينه
په مين باندی مښينه
جنتي موسکا په شونډو
او خولۍ له ګلو ډکه
ته به وايې چې دشاتو يو ه مچۍ ده
په ګلونو باندې ګرځي
يوخوږو کی انتظاريې
په لېمو کښې په څپو دی
د ګل خانګو لاندې ګوري
لکه زړه چې ورنه ورک وي
له خندانه تکه شنه شوه
خپله ورکه يې پيدا کړه
پسې منډې وهي تښتي
دښکاري په شانې داهم
خپل ويشتلی ښکارانيسي
خپل مين دلدار رانيسي
ګيډۍ زلفې يو خوا بل خوا
په اوږو زنګوي خاندي
پسرلی يې شرمنده کړ
داسې نازاو اد کاندي
خپل مين په غونچوولي
عشق دحسن او وصال په ډيوو ولي
دواړه ستړي اوستومانه

دچيني په غاړه کښي
چينه سپينه راخوتېږي
ته به وايي دحيات چينه هم دا ده
اوبه سپيني لکه تکې سپيني اوښکې
لکه دوو خويږو مينو
له اوږده هجران نه وروسته
د وصال په شيبه بنه دېروي ژړلي
داچينه وي د دوي اوښکو بهولې
دواړه لېپې کړي تري وکې
يو ديو اوبل دبل په لپه خوله ږدي
لا يې غېږې هم کړې نه وي
نه چينه وي نه يې باروي
پرهرژلې پسرلې وي
يو غمجن غوندې سهاروي
پرښته داسې خوږونه
هره شپه په خوب کې وېني
خو چې ويښه شي ژړېږي
په مابنونو غوڅه پښه يې
ګرځيدونه نه جوړېږي

پېښور ـ حمل ١٣٧٠

څلورتوتکی

دشنه اسمان غېږې ته والوتې څلورتوتکی
تورومښوکوکې یې راوړې دګلونو پانې
هره ګلپانه وه د پرخې له سرو اوښکو ډکه
دبودۍ تال نه یې وزرونوکې رنګونه راوړل
اودا څلورتوتکی
ستړې شوې کښاستې دلمړې ونه
دنورې څانګه کې یې وغزول
دبودۍ تال دهریو رنګ تارونه
په هریو تارکې یې ګلپانې او دپرخې اوښکې
په هنر وپېیلې
دتوتکیو دا ، وړه اودا رنګینه څاله
دنورې څانګه د زانګو په شانې وزنګیده
لکه ماشوم په کې للوللو شوه
یوه دنیا یوه رنګینه دنیا
یوه موسکایوه مالګینه موسکا
اودې څلورو توتکو د رنګینو په غېږکې
خوبونه وېرولیدل
شینکې شینکې تنکې تنکې خوبونه
ملکوتې اوجنتې خوبونه

دغه ښکلا دا ، يزداني ښکلا
د اهريمن په کرغېړنو اوبدرنګو سترګو
لکه اغزي لکه لشې لګيده
د اهريمن له خبيثه اروانه
يولوی ښامارجوړيده
په تورو وريځوکې راته اوتاويده تاويده
دلمر په ونه يې دزهرو خيټه واچوله
نوراني څانګې يې کړې خچې پچې
په کې لمبل به چې څلوړو توتکيو په ناز
دشينکي خوب هغه تنکی تنکی چينې شوې وچې
دتوتکيو ځاله لولپه شوه
د بېلتانه دسرو دونو باران ووريده
وصال وړې سلګی وهلې اويتيم پاتې شو
اودځلورو توتکيو داوړوکي کاروان
دمينې زړه و،دهجران په چاړه نيم پاتې شو
خدای خبردوې توتکی چېرته او دوې چېرته لاړې؟؟
دسبا سپينه کښتی
دشنه درياب اودخواړه غوندې شمال له غېړې
وحشي توپان په تورو تورو پنجو
دتورو شپو دګردابونو غېړتې څنډوهله
خودسبا مانو په سپينو نوراني لاسونو

دلمړه ونه دپراته ښامار په لویه خپته
دسپینو غشوګـو زاړونه وکړل
ښامار ویشتلي فریادونه وکړل
زهریې ګډله تورو وینو سره وبهیدل
دلمړله ونې نه راپرېوت تاوې غرونه رنګ شول
خاکې نړۍ کې زلزله شوه دپوالونه رنګ شول
دا زهرجن ښامار، دا لوی ښامار
داخبیثه او دا پلیته اروا
د اهریمن کالبوت ته ننوته
خو خدایږونه پوهیږم
زموږدښکلي سبا سپینه کښتۍ
دتورو شپوله ګردابونو راوتلې نه ده
دلمړه لویه ونه
اوس هم واړه ماران تړالونه وهي
هغه څلورتوتکۍ ورکې دي اوهیڅ نه راغلې
دنورپه څانګه یې رنګینه څاله جوړه نه کړه
اې دسبا کښتۍ کې ناستو په رنا مینو
ستاسویه منځ کې تاسې وګورئ چې شته اوکه نه ؟
یومستانه شپونکۍ چې روح یې له نغمونه ډک وي
چې هرنظریې دطورغروي له ډیوونه ډک وي
راشي دلمړدونې

دترهيدلي سيوري لاندې شپېلۍ وغږوي
په پاروګږوګوتو
چې دنغمو په جادو ګروګوتو
دنورله څانګو ماران وشو کوي
چې ورته ماتې کړي په ښکلو اوپستو کو، ګوتو
هغه ترخې هغه زهري تناکې
ترخه ترخه زهريې وبهوي
ييايې خوږې شپېلۍ ته هسکې غږې ونخوي
چې دلمرونې ته يوسپل دتوتکيو راشي
دنورپه هره غزيدلې څانګه
څلور، څلور توتکي څالې وکړي

پېښور ١٣٧٠/٥/١٥

ازادگي

گله دا وږه موده
ستا د وږمو پستې ورښنمينې ګوتې
مستې شي مستې شي زما په زړګي ټمبل وهي
زما دروح په ګړنګو کې ازانګې خيروي
ګله په تاپسې ما
درنګ نړۍ کـــې دوه مـين بوراګان وګرځول
خوګله تا
تا دنغمو په هغو شنو پانو کـــې مخ پټاوه
ګله تنکی وې چې تا
د بوراګانو د پستو مچکو تاب نه لاره ؟
ګله ګونګی وې چې تا
دوو بوراګانو ته دمبې يو څواب نه لاره
تنکی به وې ګله ګونګی خونه وې
نغمه نغمه شوې اوريدای مې شوې ليدای مې نه شوې
ستا دې په خپل حسن سوګند وې چې ر ښتيا ووايه
ته چې دخپل وجودله باغه راځې
زما دخوب اغزنې دښتې ته پښې يبلی راځې ؟
اوکه مرغه غوندې بنګې وکړې ؟
ګله صفا ووايه
ولې زما دغزل هرتوری ګلدان ګلدان شي؟
چې له تاغږتاو وې

پېښور ۱۹۹۱/۱۰/۳۰

دارغوان خوب

په زړه مې اور بليږي يا د، د جانان چپرته يوسم ؟
چې په کې ونه هوځي ، روح دارمان چپرته يوسم ؟
بىكلى نادان دى ترې امپل دغاړې نه جوړوي
وايه داني داني د دروهرجان چپرته يوسم ؟
مصره ! په تاکې خويوه زليخا هم نه وينم
وروڼو شړلى دا يوسف دکنعان چپرته يوسم ؟
داسې لپمه نه شته چې رنګ يې شي اوښتې شي په کې
په وينو سور خوب ، دزخمې ارغوان چپرته يوسم ؟
ماوې چې خپور به يې په څنو کړې دا زړه مې درجار
اوس نو ريښې ريښې سالو د الوان چپرته يوسم ؟
خپل مې ختن خپل مې بىكاريان دي او غرڅې مې خپلې
له خپل ختن نه پردې غشې کمان چپرته يوسم ؟
چې مې د خيال په پسته دښته کې اغزې خواره شول
زه د وربښمينو غزلونو کاروان چپرته يوسم ؟

پېښور خيبرپلازه ٢٧/ ١/ ١٣٧١

د پسرلي ګلپېغله

شپه دخوبونو په تپال وزنګيده
لکه ماشوم چې له ژړا وروسته په خوب ويده شي
داسې چوپتيا او کراري خوره شوه
دپسرلي ګلپېغلې غلې غلې ساه واخيسته
او دمين فطرت له غېږې ورو ورو ، وښويده
څان يې بربند دسپوږمۍ مست ابشارته وغورځاوه
له دې هوس نه ورته سپين ستوري اوبه اوبه شول
راغلل دورانګو په نريو لارو
په سپينه غېږکې يې خواره واره شول
د پسرلي ګلپېغله
سليماني تخت ته بلقيسې غوندې وختله
دپرېشانو اوربلونو په غمجنه مېنه
او د داغلي لاله زار په وطن
دلمدو څنو خو شبويي وروي
سرو غونچوکې د تاوده ژوندانه ساه پوکوي
دپاکې مينې ګنهګار وته جنت جوړوي
خواى عظيمه خدايه !
زمونږ د ژوند هره لحظه درته سجده سجده شوه
خدايه که غوڅې دې کړې
دجهنم دسرو اورونو ژبې
د اهريمن د طلسمونو ژبې

پېښور ١٣٧٠/١/٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

قحطي

نه هنگامه دعشق سړه ، نه دجمال قحطي ده

ای ښکلیه یاره نوییا ولې دوصال قحطي ده ؟

داچې یادونه یې په سرو اوښکو کې بل ساتمه

د ار ما نونو هدیرې دي دمشال قحطي ده

زړه دې پیدا کړه که له زړونوسره مینه غواړې

له پښتون زړه نه خو خبریې چې دســـوال قحطي ده

پیوند د وروځوکې خوګن خالونه نه ځاییږي

په دې ساده ښکلي محراب کې دیو«خال » قحطي ده

ولې تندي مو اورنګانو ته سجدې لګوي؟

دا د رحمان بابا قحطي که د خوشحال قحطي ده؟

لږخو ارام دخپلو وینو په سالو کې هم شه

ناسورپرهره دمرهم او د دسمال قحطي ده

دآزادۍ باز به الوتو د پامیر په څوکو

داسې ښکاریږي د وحدت د پروبال قحطي ده

کاروانه څوک دې فریاد ناوري سره اوسپین نه لرې؟

او کنه تاسره دفن او دکمال قحطي ده ؟

دټیپو غرونه

١٣٦٨/٨/٦

ا هداء : دشهيد شمس الرحمن او
شهيد محمد ميرپاكو ار واووته .

له وينو ترموسكا

خه مستانه شوردی غورونه کيږدی،
چيرته مسيح په هديرو راغی
وګورې، مړي له خندانه شنه شول
مړاوې غوټی په يوه سترګك دشبنم وموسيدې
له مرګ ياغي شوې دسيلی په غيږکې وغزيدې
ګورې، ګلونه شوې جندې جندې شوې ورپيدې
خومره بې باکه دا غزوپه خوکو ونخيدې

او دپيړی د خزان مړي پورې وخنديدې
خه مستانه شور دی غورونه کيږدئ
رندې رندې شوې دپيړ يو دکوډ ګرو سترګې
شينکی آسمان دکوه قاف په لمن ووريده
ډيرين ديو دمنارې له سره وښويده
يو ه ژورګړنګ ته وغورځيده
هغه لاسونه يې توتې توتې شول

چې ماتولې يې دقاف دښاپيرووزرې
خه مستانه شوردی غورونه کيږدئ
دښا پيرودخنو بوی راځي
هلئ زموږدکلي
په هغه سترې ملوك زيری وکړئ

بدري جماله يې سلام ته راځي
څه مستانه شوردی غوږونه کيږدئ
راغلې څپې دسندريزې خندا
هغه دي هغه ، دبتانو جنازې ووتې
چې دسحر وينې يې څنبلې هغه شپې ووتې
هغه چې تش نوم يې دښارپه مرۍ
لکه خپسه پروت و
يوه ياغي آواز دښار له مرۍوشو کاوه
دوخت بودۍ زړه ريتا ړه کې دغوتې په شان
دعدم تاخ ته ورو ورۍوغورځاوه
څه مستانه شوردی غوږونه کيږدی،
څه دتودې موسکا تندرونه اوري
درنو اوښکو دريا بونه وچ شول
جادولوګی شو ، طلسمونهوچ شول
جادو ځپلې سترګې وغړيدې
هلته دوينو دساحل په غاړه
د يوه نهنګ له ګنده شوې تنې
دچا په وينو لُمبيدلی شال بادونو يوړ
دنظر غشوته بربنډ پاتې شو
سور خونړی جهان يې شنډ پاتې شو
ژر به دخاورو په انبارکې پټ شي

څه مستانه شوردی غوږونه کیږدیء
هلته پوشکین له غزلیز وسترګو
دتولستوی په مینه ناکه ځپړه ووریده
وې یې دانښکلی اورنګین محشر له کومه راغی ؟
چې د بتانو نړۍ ونړیده
دتولستوی په شونډو
یوې خوږې موسکا بریښونه وکړل
له نازه ډکه اشاره یې وکړه
دجنوب لورته یې اوږده او مرمرین لاسونه وغزول

١٣٧٠/٦/١٦ پینسور

ددیو دقهر په خیر، دوه لاسونه

دیوه وجود ، دوو پولادي لاسونو

غنچې غنچې ګلونه وغورځول
دهریوګل په شوکیدلي پاڼه
دوه دوه مـین بوراګان
لکه د پرځي په خیر ، ووریدل
دا پولادي لاسونه
دګل دهري یوې پاڼې په مخ
دخاخکي خاخکي پرځي پرځي په سر
تیرې پنجې راکاږي
دهرو دوو ، دووبوراګانو ترمنځ
دبیلتون بریدجوړوي
د دیو دقهر په خیردوه لاسونه
دتورو کانو خواته وغځیدل
ځولی یې ډکې کړې له تورو کانو
دښاپیرې په غیږکې سپینه بنیښه
په کانو ولې چې ذرې ، ذرې شي
چې رڼا بوره شي تیارې خورې شي
دغه بنیښه دیوه وجود او د دې دو و لاسونو
دروح له میږدکه

پیښور ۱۳۷۱ ثور

باغ

په هغه شپه چې دبلوغ باغ ته ورواوښتمه
دپنځلسمې سپوږمۍ
زما ښکالو دپلو شو په غوږو . واوريدله
له شنې کړکۍ يې لکه لور دباغوان سر راوايست
باغ يې دنور په رنو کانو وويشت
سترګې مې وبرېښيدې وتمبيدم
زما تندی لکه د باغ ګلاب په وينو سور شو
يوه ګړۍ ديوې وڼې لاندې ودريدم
ورپځو ورېښيمن شال دسپوږمۍ په رخسار وغوړاوه
ساړه شمال مې ماشوم درد په تال کې ورنګاوه
زړګي مې ورپځو. ته يو ه دنيا دعا کوله
په يوه ترې تلوسه بدل شوم
هرې شيبې د کال پېښې کولې
دانتظار دپوانو
دشيبو غرونه وو په لار کې ايښي
اوپه دې لاره يوه سترې قافله دوږمو
دچا دڅنو خوشبويی باندې لړلې وه راورسيده

دتصور په ائینه کې یوه ښکلې راته وموسیده
کړنګ شو آینه زما دخیال له لاسه وغورځیده
زه له خندانه شین شوم
یوی ښایسته ښاپیرۍ غږه راکړه
زما په خو ږ سترګویې وموښل تنکې لاسونه
زما نظر بدل شو
زه د ګلونو په لوستلو باندې وپوهیدم
په هره پاڼه کې مې یو د یوان غزل ولیدل
بیا ښایسته ښاپیرۍ غیږه راکړه خوله په خ ـله شو
تندې یې وموښله
زما په تندې پورې
زما له خوب سره اسمان ته لاړه
په سپینه تندې یې سور خال ځلیده
لکه زما د غزلونو اروا
لکه ښایسته دسهارونو ستوری
ځم دنغمو په سیندکې غسل کوم
او د ګل کښې په غاړه
دسحر لمونځ کومه

پینبور ۱۳۷۱/۳/۶

زمور دکلي شنه توتيان سپيني کوتري

خدا يه ستاکومي پرښتي واخيسته ؟
په نوراني منکولو
دګلو ډموپسته وريښمينه جارو
چې يې دلرکلي اسمان جاروکړ
له تورو وريځو اوله تورو لړو
خدايه دلرکلي په شنو توتيانو
په سپينو سپينو جنتي کوترو
ته څومره ډيرووي
دښايستو نو باران
چې له بنکونه يې
بوی دچندنو راځي
چې له خبرونه يې
بوی دسندرو راځي
خدايه بخښې مې که نه ؟
توبه توبه
دلراوبرکلي عظيمه خدايه !
له تاکومه ګيله
ستا هغه ډيرې پرښتې خدايه په کومه لارې ؟
ته ورته غږکړه چې دبرکلي اسمان جاروکړي

په تورو وريځو کې دپيغلې سپوږمۍ ساتربته
په تورو وينو کې شوه سترګه د لمرلته پته
ته ورته غږکړه چې دبرکلي اسمان جارو کړي
زمو ږدکلي شين بنکې توتيان
کوي هرچاته دسلګو په ژبه
دخپلو ماتو وزرونوبيان
زخمي مريوکي دمستو الوتنو نغمو
دوينو زنګ نيولی
زمو ږ دکلي هغه سپيني اسماني کوترې
چې دسپوږمۍ په سپينه شپه يې دسوما ګلونه
په پيغلو پيغلو ترانو کې ستايل
خونن د بر کلي وريښمينه فضاء
اغزي اغزي غوندې ده
د سپينو سپينو اسماني کوترو
د زړونو وينې ځپښې
زمو ږ دکلي ښايسته کوترې
سپينه سپوږمۍ په خوب کې وينې اوسوما په خوب کې

پښور ۱۳۷۰

د ديو دلاس دماتيدوسندره

زما دروح د ونې
په هغه جګه غورګه
يوې خورې يوې پستې سندرې
لکه د سپينې اسماني کوترې
له زيرويم نه جوروله ځاله
ورته راتله دښاپيرو له وطن
لکه بدرې جماله
په سندريز اندازکې
ته لکه ديو غشي لينده په لاس کې
ماستا دغشو شغاو اوريدله
لکه شاهين وې خوشی
په يوه کوتره پسې
غشی دې شغ شوراغی
زما سندره پسې
او د زړګي په سرمې ولګيده
زما د روح دونې
هغه اوچته غورګه ورپيده
دزيرويم له ځالې والوته
زما سندره د کوترې غوندې

دښاپيرې بدرې جمالي غونډۍ

پستنه لاړه دارم په لوري

د شهادت په وزرونو د عدم په لوري

او په ښي لاس مې پولادي غشی له زړه راوکيښ

لکه قلم زما د زړه له مشوانۍ نه ډک و

پولادي نوکه يې په وينو سره وه

په خپل ورغوي مې پرې وليکله

دناويلې ښايستوکې اوپستې سندرې

دشهادت ويرنه

دهغه لاس دماتيدو سندره

چې غزلګرزړونه په غشو ولي

چې داروا له وني

سپينې کوترې شړې

زما مزار ته لوحه مه جوړوئ

زما کين لاس زما دقبر لوحه

راتپوکيدلې ده د زړه له تله

پرپېردئ ولاړه دې وي تل ترتله

چې لاروي مې په ورغوي لولي

د ديو د لاس دماتيدو سندره

پيښور لحيم پلازا ١٣٧١/٤/٢٨

دباران زګیروی

دا خو شپې سریه سرد باغ په ستوني
یوه خپسه ناسته
د باغ تنکي ګلونه
اغزن خوبونه ویني
باران له تري باغ نه باد په دیکه تیل وهلو
او داغزوپه غېږیې و واروه
پانوزګیروی د باران واوریدو او وبورنیدې
دسپیره بادله ویرې ورپیدې
بلبل دپرخې په ځای سرې سکروټې وځبینسلې
ژبه یې ګونګه شوه نغمې نه ورځې
خولا دګل کنډول یې هیرنه دی توبې نه ورځې
آه دماشومګل غوټو په شونډو
سپیره ګردونه پرانه
اغزونیونه د سپوږمۍ رودلې
په هره خوګه یې نوټې نوټې الماس ځلیږي
اوس په ګلونو باندې ناز خرڅوي
باغ د فرعون په قبضه کښې پروت دی
اوچار چاپیر تري د اغزیو د یو الونه تاودي
باغ ته په شنو ګامونو

هابنديوان پسرلی نه شي راتلای
داپسرلی هغو الماسو غيرکښې ټينګ نيولی
چې د فرعون دا غزنې ږيرې
په هريوتارتارکې ټالونه وهي
مور په موسی پسې ليمه ليمه شو
که چيرته راشي يو ماشوم موسی په پالي پالی
چې د فرعون له اغزنې ږيرې
دانې دانې الماس راوشو کوي
هغه بندي پسرلی والوزي بنګې وکړي
زمور په باغ وزرې وغوړوي

پيښور ۱۹۹۱/۱۰/۱۷

دباروتو دوزخ

دوزخ دی دباروتو جنتونه په کې ســـــوزي

سپرلي په کې ایره شول سره گلونه په کې سوزي
د تاندوتنکی هیلو دموسکا غوتی لمبه شوې
بس مینې هدیرې شوې مشالونه په کې سوزي
عشق وسو ، لولپه شو په بسکلا اوري سکروتې
وصال په کې ستي شو هجرتونه په کې سوزي
ویشتلی دنورغشي بوډی تال په لیندہ نـه شي
اورونه دي لوګي دي اورنګـــونه په کې سوزي
په زړونو اوربلیږي خدایــه چاته وژارمـــــه ؟
روغ څه چې لیوني ببرسرونه په کې ســـــوزي
سور اور پیمانه کې ساقي وسو ، جام یې پریوت
لاغړپې یې کړی نه چې تږي زړونه په کې سوزي
ختن تالاوالاشو نه غزال شتـــــه نه عــطرونه
نیپام خوړې سپرغی کړې راکټونه په کې سوزي
داڅه یزیدي ظلم دی په دغه کربلا کې
ژوندن خو عاشورا شو اخترونه په کـــې سوزي
اور کربنه غځولي مجنون دلته ، لیلا هلـــــته
دیدن ته وا دسترګو کچکولونه په کې ســـوزي
الهي نمرودي اورونه ته گل وگلزار کـــــــړې
ته گوره د خلیل خواږه یادونه په کې ســـوزي
لګیږي به مرهم غوندې په سوولوو زړونـــــو
«کاروانه » خیرکه ستاهم غزلونه په کې سوزي

تنې ۱۳٦۸

زما دسورکي اوښ فرياد

ما به په زخمي اوږه بارونـــــه وړل
غاړه کې مې ښکلي امـــــيلونـه وړل
تل مې تګ راتګ و ، کاروانـونوکي
تلمه په پيچو موکې په غرونـــوکې
کله په اغزو کـــــله ګـــلونو کې
تګ مې نه و خوښ په مـهارونـوکي
ډير وم ګرندی په قدمونـــــو کې
تل مې له اوښانو ميدانـــونه وړل
غاړه کې مې ښکلي اميلـــونه وړل
ډير په خطر ناکو لاروتـــــللی يم
ډير ډير په مستۍ کې تښتيدلی يم
ډير راغورځيدلی پر زيدلـــــی يم
کله هم ګـــرنګ ته ورلـــويدلی يم
بيا هم په ميړانه تړې ختلـــــی يم
ما په مکيز غاړه بـوځ غورونـــه وړل
غاړه کې مې ښکلي اميلونـــــه وړل
هرځو مې که زړه له باره ســـتړی دی
زړه کې مې زرغون دمينـــې زړی دی
نازمې دغريب په ليمـــــو وړی دی
بې مزده مې پنډ ورتـــــه راوړی دی

پوزه کې زما دالفت پـــــرې دی
تل به مې ډالی اوســـاغاتونه وړل
غاړه کې می ښکلي امیـلونـــه وړل

ډیر راسره یوبهـیر کې تللـــي دي
تللي دي.واپس کـله راغلـــي دي
پاس راته جازونه غـوریـدلـــي دي
خواکې می ښـونـه لګیـــدلي دي
مرګ راته په برګودیر کتـنـي دي
ښایا به مې هم کټه او ځلـــونـه وړل
غاړه کې مې ښکلي امیـلـونـه وړل

تګ به مې دشپې په قافـلـو کې و
لوند به مې بدن ټول په حولو کـــې و
زړه مې دځوانۍ په ولولـــوکې و
مل به مې کاروان په منزلـــو کې و
روح یې دشعرونو په بنګلو کـــې و
مایې د ډاګې غـونډې لیکـونه وړل
غاړه کې مې ښکلي امیلـونـــه وړل

بار شومه په سختو سرو ګرمیـــوکې
زورمې پاتـې نه و . پـــه تلیو کې
ور ورو به راتلمه په غونډیـــو کې
اوښکې مې وې پنډې په ککـیو کې
څه غمجن سرود مې و.ګونګریو کې

وروسي دمرګ غير تـــه قدمونه وړل
غاړه کې مې سکـلي امـيلونه وړل
بيا په خپلو وينوکې غـرقاب شومه
ونډې ، ونډې جوړپه نبه حساب شومه
ويش په هرغريب په هر جناب شومه
ورك دسخت مرګي په انقلاب شومـه
جوړتوټې توټې شومه کباب شومـه
خدای خبر چې چابه مې خوندونه وړل
غاړه کې مې سکلي اميلـونه وړل
داغ که دکاروان په ځيـګر خون يمه
خيال نه مې شړې وايي پښتـــون يمه
وايي که غمجن دي په بيلتـــون يمه
هرڅه دي له خدای پوه په قانـــون يمه
ټينګ عزم لرم کـه په شواخـــون يمه
زړه ته يې دصـــبر مرهمونـــه وړل
غاړه کې مې سکـــلي اميلونه وړل

PROPERTY OF ACKU 4382

وړې خيسوره دچور کوسوې دځنګل لمن
۱۳٦۸ / ٦ / ٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

ARIC
B
3.532
KAR
4382

پیر محمد کاروان

Series No:69-70

LE MAKHAMA TER MAKHAMA

FROM EVENING TO EVENING

A collection of poems

Pir Mohammad karwan

د ماښامه تر ماښامه

Published by:

Writers Union of Free Afghanistan(WUFA)

Copies 1000

Peshawar 1992

د شعر و نو مجموعه

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library